# د زړورتیا رازونه

[اروا پوهنیزې شننې او بحثونه]

لیکوال:
ډیل کارنیګي



ژباړن:
نوزادالله ودېر

# د زړورتیا رازونه

[ارواپوهنیزې شننې او بحثونه]

لیکوال

**ډیل کارینګي**

ژباړن:

**نوزاد الله ودېر**

۱۴۰۰ل/ 2021م

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

**کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم:** د زړورتیا رازونه

**لیکوال:** ډیل کارینګي

**ژباړن:** نوزاد الله ودېر

**منځپانګه:** ارواپوهنیزې شننې او بحثونه

**د کتاب چاپېڼه:** A5 کچه، ساده کاغذ، (۱۰۴) مخونه

**چاپوار:** لومړی چاپ

**ختیځ خپرندویه ټولنه- جلالکوټ**

**۰۷۸۷۴۱۲۰۵۰ - ۰۷۷۱۱۰۴۲۴۳**

khatiz.press@gmail.com

**د کتاب نوم:** د زړورتیا رازونه

**لیکوال:** ډیل کارینګي

**ژباړن:** نوزاد الله ودېر

**ډیزاین:** عبدالهادي اثر ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳ / ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳

**چاپچاري:** ختیځ خپرندویه ټولنه – جلال آباد

**چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپکال:** ۱۴۰۰ ل/ 2021م

د چاپ حقوق له خپرندویه ټولنې سره خوندي دي!

**د ترلاسه کولو پتې:**

**ننګرهار:** لومړی پته ختیځ کتابپلورنځی، اسحاق زی مارکیټ لاندینی پوړ

**دویمه پته:** درونټه، ننګرهار پوهنتون ته مخامخ

**اړیکه:** ۰۷۸۴۰۰۱۲۳۷-۰۷۷۲۷۱۹۰۳۰

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ!

هغو همفکرو ته،
چې دمګړۍ يې زما کتاب په لاسو کې دی او لولي يې.

*- نوزاد الله ودېر -*

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# د لیکوال پېژندنه

ښاغلی نوزادالله ودېر پرکال ۱۳۷۰ لمریز د ښبوې ولسوالۍ بډیالۍ په کلي کې محمد جواد ودېر په دین دوسته کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولي دي، هغه په قام ودېرساپی او کورنۍ یې د ملکانو په نوم شهرت لري، تر نهم ټولګي یې د بډیالۍ په منځني ښوونځي کې زده کړې کړي او پر کال ۱۳۸۸ لمریز د توکل بابا له لېسې فارغ شوی دی، ښاغلي ودېر لا هم ارمان لاره، چې لوړې زده کړې وکړې، دا چې له پښتو ژبې او ادبیاتو سره یې زیاته مینه وه، یادې فاکولتې ته بریالی او پر کال ۱۳۹۴ ل د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي په اعلی درجه د لسانس په کچه فارغ شو.

د مسلک مینې هغه له ادبیاتو او ژورنالېزم سره تاړه، دسباوون ستوري په مسلکي انستیتوت او رادیو کې یې د ژورنالېست او ښوونکي په توګه یو کال دنده ترسره کړه.

ښاغلی ودېر اوس د ځوانو ژورنالستانو خپلواکې ټولنې د مسوول، د

میدیوتیک افغانستان اداري د مرستیال، ټرینر او سولې لپاره د ځوانانو همغږۍ شبکې د رئیس په توګه د خپلو خلکو او ټولنې په خدمت بوخت دی.

ځوان لیکوال، ښاغلی ودېر په نثر سربېره د شعر له ښاپېرۍ سره هم خبرې کولای شي، لنډې کسې یې هم لیکلي او په دې برخه کې ښه وړتیا او استعداد لري.

موږ د دې کتاب د چاپ له امله ښاغلی ودېر ته مبارکي وایو، دا چې ځوان دی او لا هم د امیدونو ډېر سپرلي ورته سترګې پر لار دي، هیله لرو، چې لا ډېر به ټولنې ته د ادب او فرهنګ د بډاینې په لاره کې خدمت وکړي او د معنویت ځولۍ به یې له بریاو ډکه شي.

**درنښت**

**سید امر الله امید**

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# خپلې خبرې

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله وآله و صحبه وبعد:
پښتو ژبه ډېر خدمت ته اړتیا لري، لا هم موږ په هغه پړاو کې نه یوو، لکه څرنګه چې د نړۍ نورې ژبې د پرمختګ په حال کې دي، د پښتو ژبې د لا بډاینې او غنې کېدو لپاره ډېر کار پکار دی، خو بیا هم یو څه اندازه کار شوی، چې په دې وروستیو کې ډېرو خوانانو د پښتو څانګې د لسانس او ماسترۍ برنامې څخه خپل تصدیقونه تر لاسه کړي او ګڼ شمېر یې په زدکړو بوخت دي، ځینې نور یې بیا په نویو موضوعاتو کې کتابونه او بېلابېلو برخو کې مقالې لیکي، همدارنګه له نورو ژبو څخه اړین او ګټور کتابونه پښتو ژبې ته را ژباړي، چې همدا چاره کولی شي، ترڅو خپله ژبه پرې د معنیویت له اړخه پیاړې او غني کړي.
زما هم د ژباړې لومړنی هڅه ده، چې د ځینو اړینو موضوعاتو په برخه

کې مې ترسره کړې، دغې چوپړ ته د اوږې ورکونکې او ژمنتیا هوډ لرم، غواړم چې په راتلونکې کې نورې گټورې پنځونې هم رامنځته کړم، له دغې هڅې څخه مې بنستیزه موخه داده، چې دژباړې فرهنگ په نویو ځوانو لیکوالو کې دود شي او عام وگړي د مطالعې له اړخه خپله علمي پانگه لا بډای کړي.

د ژباړې په برخه کې دا زما لومړی گام دی، چې د (ډیل کارنگي) له کتاب (گفتگو کا فن) او ځینې نور موضوعات مې دېبلابېلو سرچینو څخه دغورچاڼ په توگه، چې دکتاب له موضوعاتو سره سر خوري را ژباړلي، پدې کتاب کې ډېر داسې موضوعات شته، چې په ورځني ژوند کې یې دپاملرنې په صورت کې موږ گټې بریاوې لاسته راوړلی شو، لکه دوینا پرمهال دښې وینا اصول په پام کې نیول، څنگه له هغو خبرو ځان وژغورو، چې موږ ناهیلي کوي، څنگه په ځان کې د صبر، حوصلې او زغم ماده پیاوړې کړو؟ خپل ناوړه سلوک او چارچلن څنگه سم کړو؟ څه ډول د وخت په ارزښت پوه شو؟ څنگه ملگرتیا وپالو او په ژوند کې باید کوم ډول ملگري ولرو؟ څنگه خپل شخصیت پیاوړی او غښتلی وساتو او.... هڅه مې کړې، چې په ژباړه کې د لیکوال ټول حقوق په پام کې ونیسم او د خپلو خلکو لپاره یې په ساده او عام فهمه(د ولس په ژبه) ازاد وژباړم، ترڅو لوستوونکي د لوستنې پرمهال هیڅ ډول ستونزې سره مخ نه شي.

د ژوندانه د یو اوږد سفر د بشپړېدو د وروستۍ سلگۍ پورې هوډ لرم، چې په پوره اخلاص او مینې به کار کوم او دا لړۍ به روانه

ساتم، دا معلومه خبره ده، چې د هر نوي کار پیل یو څه ستونزمن او له نیمګړتیاوو څخه ډک وي، که له ما هم کومه تېروتنه شوې وي، نو له تاسو ټولو له مخې ښښنه غواړم، ستاسو له سالمو او تعمیري انتقادونو په هیله یم، نور نو تاسو کتاب لوستنې ته رابولم، خپلو خوږو ملګرو او ښوونکو څخه مننه، چې په دې برخه کې له ماسره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې او د کتاب د لا ښکلا لپاره یې راته اړینې لارښوونې کړي، په پای کې له ختیځ خپرندویه ټولنې ، چې خپلې پښتو ژبې ته یې ډېر خیر رسولی او د زړه له تله ترې مننه کوم، چې زما کتاب د چاپ لپاره یې اوږه ورکړې او ستاسو تر لاسو یې دروررسولو.

**په درنښت**

**د ځوانو ژورنالیستانو خپلواکې ټولنې مشر**

**نوزاد الله ودېر**

# فهرست


د سریزې پر ځای ........................ ۱

ژبه! ........................................ ٦

**د بحث کولو اړین اصول ........................ ۱۰**

۱. سوال (پوښتنه) کول ........................ ۱۴

۲. په خپل مزاج حاکم اوسئ! ........................ ۱۴

۳. د بحث پر مرکزي ټکي باندې حاکم اوسئ! ........................ ۱۵

۴. کله چې موضوع روښانه شي ........................ ۱٦

۵. خپل د ذهن دروازې خلاصې وساتئ ........................ ۱۷

۶. ښه او بد د انسان په تقدیر پورې اړه لري .................. ۱۷

۷. له ناهیله کوونکو خبرو څخه ډډه وکړئ .................. ۲۰

۸. په ځان کې د ښه خصلت او صبر نښې وځلوئ .................. ۲۲

۹. خپلې پرېکړې له تر سره کولو د مخه تجزیه کړئ! .................. ۲۴

خپلې بدې کړنې وسوځوئ! .................. ۲۷

هره شېبه د ژوند لپاره اړینه وبولئ .................. ۴۲

خپل عزت په خپله وکړئ .................. ۴۴

ستاسې ښه ملګری څوک دی؟ .................. ۴۷

ځانګړی شخصیت .................. ۵۰

سترګې مو خلاصې کړئ .................. ۵۲

په ځان باوري اوسئ .................. ۵۵

تاسو چې په کوم ځای کې قرار لرئ، .................. ۶۰

اړیکې په بد اخلاقۍ له منځه مه وړئ .................. ۶۳

**له خوښې ډکې اړیکې څه ډول جوړې کړو؟ .................. ۶۵**

۱. کوښښ وکړئ، چې یو بل په سمه توګه وپېژنئ .................. ۶۵

۲. خبرې مو په واضح ډول ترسره کړئ .................. ۶۵

۳. په زور خپلو خبرو اورېدلو ته څوک مه اړباسئ .................. ۶۶

۴. خپله باید یو ښه اورېدونکي اوسئ .................. ۶۷

۵. کوښښ مه کوئ، چې تولې خبرې له نورو سره .................. ۶۷

۶. له یو بل پرته د وخت تېرولو عادت په ځان کې............ ۶۸
۷. له نورو وګړو څخه د هغوی د پرېکړو حق مه اخلئ.......... ۶۸
۸. د یواو بل ستاینه وکړئ ........................ ۶۹
۹. د خپلو اړیکو ځارندویان مه اوسئ................ ۶۹
۱۰. د یو او بل عـزت وکړئ ........................ ۶۹
۱۱. د خپلو اړیکو شننه او تحلیل وکړئ ................ ۷۰
۱۲. د خپلو نیمګړتیاوو منونکي اوسئ................ ۷۰
ملګرتیا مسوولیت دی!.............................. ۷۲
د پاملرنې ډالی!.................................. ۷۶
وینا او پر ژوند یې اغېز.......................... ۷۸
روح لوبوونکي توکي .............................. ۸۱
**که غواړئ مثبت فکر ولرئ، اړینه ده............... ۸۴**
۱. په خپل ذهن کې د خوشالۍ او ګټې تصور ځای کړئ .... ۸۴
۲. د خبرو پر مهال له مثبتو کلمو او لفظونو ګټه واخلئ ...... ۸۵
۳. هڅه وکړئ منفي مفکورې له ذهنه لرې کړئ ........ ۸۵
۴. د خپل ژوند مثبتو او سمو اړخونو ته نظر وکړئ ........ ۸۵
۵. له هغه کسانو سره ناسته ولاړه او ملګرتیا وکړئ، ........ ۸۶
۶. له الهام ببښونکو فلمونو او داستانونو ګټه واخلئ ........ ۸۶
۷. هغه څه په خپل ذهن کې انځور کړئ، چې غواړئ ....... ۸۷

٨. زده کړئ، چې په خپلو فکرونو غالب و اوسئ ..............٨٨
٩. هغه کارونه او کړنې په ذهن کې را وګرځوئ، چې ........٨٨
١٠. په یوه موضوع تمرکز او څارنه زده کړئ او تمرین........٨٩
١١. د خوښ اوسېدو مهارتونه زده کړئ......................٨٩
١٢. سپورت مه هېروئ ...........................٨٩
١٣. خندا او خوشالي ته اهمیت ورکړئ .................٩٠
١٤. د ناتوانیو پر ځای خپلو ځواکمنتیاوو ته وګورئ ...........٩٠
١٥. د هغه څه په ځای، چې نه یې لرئ، په هغه څه ........٩٠
١٦. (نه شم کولی) دا کلمه له ذهنه وباسئ.................٩١

# د سريزې پرځای

ګران نوزادالله ودېر خپل ژباړلی او تأليف کړی اثر ((د زړورتيا رازونه «ارواپوهنيزې شننې او بحثونه») د دې لپاره راکړ، چې د سريزې پر ځای يې په څو کرښو کې د منځپانګې ارزونه وکړم، چې کتاب مې ولوست، نو راته جوته شوه، چې ډېره برخه يې ارواپوهنيز بحثونه دي، خو په ادبي ژورناليستکه ژبه ليکل شوي، نو راته مناسبه ښکاره شوه، چې لومړی له تاسو درنو لوستوونکو سره ارواپوهنې پر پېژند او له ادبياتو سره د هغې پر اړيکو لنډه او څغلنده زره حواله وکړم اوبيا يې د منځپانګې ارزونې ته تم شم.

((ارواپوهنه)) هغه علم دی، چې د انساني کړو وړو بېلابېل اړخونه، لکه بدني، عقلاني، عاطفي او تخيلي خواوې مطالعه کوي.

او يا په بله وينا: ارواپوهنه په انسان او عام ډول ټولو حيواناتوکې د کړو وړو منظمه او سېستماتيکه مطالعه ده، چې پر مشاهدې او

تجربې ولاړه وي.

په عامه توګه اروا پوهنه یو ټولنیز علم دی او له څینو نورو علومو او فنونو سره نه شلېدونکې اړیکې لري، همدا لامل دی، چې د بېلابېلو علومو او فنونو پوهان په خپلو لیکنو، څېړنو او پنځونو کې له اروا پوهنې څخه استفاده کوي او دغه علم هم له نورو علومو او فنونو څخه په خپل ځای لازمه ګټه اخلي، هغه حیاتي درمل، چې په دې وروستیو کې کلونو کې دروانې ناروغیو، اندېښنو، په خوی او عدت پورې اړوندو ستونزو د درملنې لپاره کشف او کارول کېږي، له نورو علومو او فنونو سره د اروا پوهنې داړیکو یو لوی دلیل دی، سربېر پر دې دا د دې واقعیت ښکارندوی هم کوي، چې د علومو بېلابېلې څانګې د خپل ځان په اړه د چاپېریال د کنټرول په منظور د بشریت د مرستې لپاره په پرلپسې توګه بشپړېږي.

ادبیات د یوې ټولنیزې بشرې پوهنې په توګه له اروا پوهنې سره (چې معمولاً د انسان د عاطفي، عقلاني او تخیلي اړخونو سره سروکار لري.) ډېره نږدې اړیکه لري او ادیب هم په ټولنه کې د یو اروا پوه په څېر ژورې مطالعې او مشاهدې ته اړ دی، هغه په خپل پنځولي ادب کې د خلکو په ځانګړي توګه د خپلو کرکټرونو عاطفي او روحي حالتونه داسې انځوروي، چې لوستوونکي، اورېدونکي او لېدونکي ته هغه کټ مټ داسې ربښتینې برېښي، لکه دا هر څه چې په خپلو سترګو ویني او هغه کرکټرونه له خپلو خویونو، عادتونو

او عـاطفي حـالاتونو سره د ده پـه مخکـې ژونـدي گرځـي راگرځـي، نـو لـه دې څخـه د ادبيـاتو پـه تخليـق او پنځونـه کـې د اروا پـوهنې ارزښتناکه ونډه زياتېږي.

دا ستاسـو پـه لاس کـې اروا پـوهنيز اثـر، چـې ماتـه د ژبـاړې او تـأليف پـه زړه پـورې گډولـه ترکيـب ښـکاري، د ادب پـه پنځونـه او رغونـه کـې موږ ته د اروا پوهنې ونډ او ژورې اغېزې پوره جوتولی شي.

پـه دې کـې شـک نشـته، چـې د دې اثـر ډېـری بنسـټيز موضـوعات ژبـاړن د(ډيـل کـارنکي لـه کتـاب، گفتگـو کـا فـن) او ځينـې نـورو بېلابېلـو سرچينـو څخـه د ژبـاړې لـه پـاره غورچـاڼ کـړي دي، پـه هـر صـورت دا يادونـه اړينـه بـولم، چـې ژبـاړن پـه خپلـه (اديـب، شـاعر، ليکـوال او ژورناليسـت) دی، د خپلـې ژبـاړنې او ليکنـې لـه پـاره پـه ډېـرو برخـو کـې خوږه ادبي او کلـه ـ کلـه بيـا روانـه، سـاده او ژورناليسـتي ژبـه کـارولې ده، ځـای پـر ځـای يـې متلونـه، محـاورې، د دينـي نصوصـو ژبـاړې او پـر دې ټولـو سربېـره لـه خپلـې افغـاني ټـولنې زيـات شـمېر مثالونـه ورکـړي دي، نـو ځکـه دغـې اثـر تـه د ژبـاړې او تـأليف گډولـه ترتيب او ترکيب بنه ويلی شو.

کـه مـوږ د دې ژبـاړلي او تـأليف کـړي اثـر نـورې منځپـانگې تـه وگـورو، نـو ډېـرې ډېنـد او خونـد نـه ډکـې خبـرې لـري، چـې د ادب مالگـه او مصـاله پـه ډېـر هـنر ورگـډ شـوي دي: کـه لـه يـوې خـوا د وينـا کولـو بېلابېـل اړيـن اصـول زمـوږ مخـې تـه ږدي او لـه دې مـو خـبروي، چـې

د وینا کولو پرمهال بایدکومو ټکو ته، څنګه او څومره پاملرنه وکړو، نو له بلې خوا دا هم راښيي، چې څنګه له ناهیلي کوونکو خبرو څخه ډډه وکړو؟

څومره او څنګه په ځان کې د صبر، حوصله او زغم پیدا کړو؟ خپل ناوړه سلوک او چارچلن څنګه سم او اصلاح کړو، څنګه د وخت په ارزښت او اهمیت ځان پوه کړو؟ خپل عزت النفس څنګه خوندي کړو؟ څنګه خپل شخصیت ته تبارز ورکړو؟ څنګه ملګرتیا وپالو او ځانته همښش ملګري پیدا کړو؟ تر کومې کچې پر ځان باور ولرو؟ نور دکمزورو وګړو ناوړه عادتونه هم راته بېل ـ بېل ښيي او له دې مو هم خبروي، چې ناوړه خویونه او بد اخلاقي څنګه خپل منځي اړیکې پرېکوي او له هغې وروسته دا لارې چارې هم ښيي، چې له نورو سره رغنده او له خوښې ډکې اړیکې څنګه جوړې کړو؟ او داسې نورې ډېرې د پنداو خوند ډکې خبرې د دې اثر منځپانګه جوړوي.

ژباړن او مولف یو ډېر ګټور اغېزناک کار دا کړی، چې ډېر پېچلي او اروا پوهنیز مسایل یې په خوږه، رنګینه او ادبي ژبه لوستووکو ته وړاندې کړي دي او ترڅنګ یې دا هنر هم کارولی، چې که مطالب یې له (اردو) څخه د دې اثر د تدوین لپاره غورچاڼ کړي، نو دهغې لپاره پښتو متلونه، محاورې او له خپلې پښتني ـ افغاني ټولنې څخه د ژوند ورځني مثالونه او بېلګې راوړي، چې زما په اند

همدې تصرف یې او ژباړنې ارزښت او اهمیت څو برابره زیات کړی او د هغې د معقولیت او مقبولیت چانس یې ډېر کړی دی، زه یې دا په زړه پورې بریا او د خپلې فرهنګې بداینې لپاره ګټوره زیاتونه ګڼم؛ دمطالعې مینه وال او لوستوونکې رابولم، چې له لوستو یې پندونه او خوندونه واخلي، ژباړن ته یې د لا غوره فرهنګي خدمتوتو په هیله یم.

**په درنښت**

**ښېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي**

**د افغانستان دعلومو اکاډمي ـ دپښتو څېړنو د بین المللي مرکز مشر**

**کابل ـ د ثور لسمه(۱۴۰۰)کمریز کال**

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# ژبه!

ژبه د انسان د بدن یوه کوچنۍ ټوټه ده، خو د معنویت له اړخه ډېره ستره او په ټولنه کې د انسان سلوک، کړه- وړه، پوهـونې او را پوهونې اغېزمنه وسیله ده، همدا ژبه ده، چې په ټوله نړۍ کې پرې میلونونه انسانان په بېلابېلو لهجو د یو بل سره خبرې اترې کوي، د هرې ژبې د ادا کولو ځانګړنه، لهجه، وینګ (تلفظ) او اواز یو تر بله توپیر کوي.

ژبه د الله پاک په نعمتونو کې یو داسې لوی نعمت دی، چې په دې کې د ویـزو او وریـزو غړونو څخه پرته، د یو مالګین، خوږ، تریخ، تود، یخ او تروش، خوړو پېژندنې ځانګړتیاوې ایښي دي، چې په واسطه یې انسان د ذايقې حس معلوموي شي.

حقیقت خو دا دی، چې پرته له ژبې انسان د څه خوړولو او ویلو توان هم نلري، د ژبې په دندو کې یوازې ویېز غړونه ندي، بلکې په خوله کې د غاښونو په مرسته بې له کومې ستونزې څخه د یوې مړۍ د ښه ژولو، په خوله کې د اړولو را اړولو، وروسته له هغې یې د

ستونې تر خلق پورې رسول د ژبې دنده ده.
که چېرې تاسې د يوې خوندورې غذا لطف کوئ او په سبب يې خوندلرونکې خوشبو ستاسې اشتها راولاړوي او بيا خوله موله- اوبو (لاړو) څخه ډکېږي، لامل يې همدا ژبه ده، چې بيا همدا اوبه د يوې مرۍ په نرمولو کې له تاسو سره مرسته کوي، چې په پايله کې يې د معدې له درد او رنځ څخه انسان خوندي وي.
په ژبه کې اللّٰه تعالی دا توان هم اچولی، چې د هغې په واسطه موږ ښې او بدې غذا توپير کولای شو، لکه څرنګه چې په کورنيو کې يوه ښځينه د پخلي(کتخ) د پخولو پر مهال د هغې مرچ، مثاله، مالګه او... معلوموي، نو دا هم د ژبې کمال دی، په څرګند ډول خو ژبه انسان ته يوه ساده د غوښې ټوټه ښکاري، خو د ساخت او جوړښت په لحاظ يې که مطالعه او مشاهده کړو، نو په پايله کې به دا نتيجه په لاس راشي، چې دا يوه ډېره پېچلې او سخته عضله ده، چې جوړښت يې ستر خالق په خپل حکمت تر سره کړی.
سربېره پر دې، ژبه د يوې ټولنې په معنوي اړخ کې د ژمنې په توګه هم کارول کېږي، لکه موږ يو چا سره د يو توکي د اخېستنې په موخه بيعه کوو، نو وايو، چې دا فلانی شی زما شو او زه دسره دا ژبه کوم، چې بيا به له خپلې خبرې څخه نه تېرېږم.
کله-کله د ژمنې پر مهال داسې هم وايوو، چې زه د يوې ژبې سړی يم، هيڅ وعده خلافي نکوم، په خپله ژبه ټينګ ولاړ يم، زموږ

مشرانو او پخوانيو خلکو په فلکلوريکو ژانرونو کې د متل په بڼه هم د ژبې ارزښت څرگند کړی، لکه: (خپله ژبه هم کلا ده، هم بلا ده.) چې د ژبې سمه کار ونه د انسان د شهرت او بریالیتوب سبب کېږي، خو ناوړه استعمال يې د بربادۍ او بد نامۍ لامل گرځي.
پخوا به يو دود دا هم و، چې د پلور او پېر پر مهال ژبې ډېر ارزښت درلود، کله به چې د يو شي د اخيستو پرېکړه وشوه، نو بيا به داسې وېل کېده:
(هر څوک چې له خپلې ژبې و اوښت، هغه به ناغه ورکوي.) خو اوس دا فرهنگ تر ډېره کم رنگې شوی دی، اوس خلک د پرېکړې پر وخت يو سند د قرارداد په بڼه ليکي او د هر شخص، پلورونکي، پېرونکي او شاهدانو څخه لاسليک يا گوته اخيستل کېږي، دا په دې معنا ده، چې باور او اعتماد ته زيان رسېدلی او يا دا چې اوس خلک په خپله ژبه ټينگ ولاړ ندي.
کله چې له يو چا سره لفظي شخړه کوو، نو په غير ارادي توگه مو له خولې يوه داسې خبره وځي، چې بيا د خپل پښتني غيرت په سبب ترې تېرېدای نشو او په ډېره قهرجنه لهجه وايو، دا زما وروستی پرېکړه ده، زه له خپلې خبرې نه تېرېږم، د پښتون يوه ژبه ده.
همدارنگه ځينې وخت يو څوک د ورځني ژوند په عامه محاوره کې خپل مخاطب ته د ايمانداری، وفادارۍ او رښتيني شخص په توگه ځان ور پېژني او وايي:

(زما د زړه او ژبې اړیکه یوه ده.)

موخه یې ترې داده، چې څه مې پر ژبه وي، هغه مې په زړه کې هم وي، چل، فریب او دروغ مې ندي زده.

په همدې اساس په لنده توګه ویلای شو، چې ژبه د ستر خالق لوی نعمت دی، چې هم د خبرو کولو، هم د خوړلو او هم د معنویت په برخه کې ستر ارزښت لري.

یو شاعر وایي:

نورې ژبې زده کول که لوی کمال دی
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# د بحث کولو اړین اصول

زه یو داسې شخص در پېژنم، چې هغه په هر بحث کې د بریا خاوند شوی، نوموړی بې حده ذهین، ځیرکه او تېز مغزه انسان دی، یو زړه راښکوونکی داستان ویوونکی او د الفاظو هنریې ډېر اغېزمن دی، معنا دا چې په دې کې ټول هغه صفات شته، چې په عملي کولو سره د یو چا په ژوند کې مثبت بدلون راوستلی شي.

که چېرې یو څوک د چا سره د مباحثې پر مهال په اړونده موضوع کې د ده پر قوانینو روان شي، نو مقابل لوری به ډېر په اسانۍ سره په قناعت ورسوي، د بحث پر وخت خپل ځان د اغېزناک ثابتولو لپاره په داسې شد او مد کې ښکېل شي، خو چې په هر قیمت وي مقابل شخص به قناعت ته نږدې کړي، د دلایلو ډېری به جوړ کړي، ډېر به په پیاوړي او جزباتي نظر کې ښکاري، خپل ټول توان او وړتیا له مخې به دا احساس کوي،چې مقابل لوری یې ماتې خوړلو ته مایل کړی، بیا به د خبروپه قوت داسې حملې

کوي، لکه څرنګه چې یو څوک د جنګ په میدان کې د تورو او زغرو په سبب د دښمن مقابله کوي او د خپلې جرارې رویې پر مټ په د بحث موضوع توده ساتي، هر څوک چې دا شخص پېژني د هغه په مفکرې او هوښیارتیا باندې اعطراف کوي او عام ژوند کې د ده حسنه اخلاقو ته هم تسلیم وي.

د ده ټولې دا ښې کړنې په مقابل لوري اغېزه کوي، همدا علت دی، چې نوموړی تل برلاسی وي، په بحث کې د هیڅا څخه ماتې نه مني، له هرې لارې چې وي ځان خپلې موخې ته رسوي او هغه د پوهانو خبره، هر کله چې تاسو غواړئ په بحث کې له یو چا څخه خپل د خوښې وړ کلمات تر لاسه کړئ، نو تاسې به له ډېر زغم او حوصلې څخه کار اخلئ، چې دا ټولې ځانګړتیاوې په ده کې موجودې وې.

په همدې اساس که چېرې موږ د غوسې په وخت کې د بد سلوکۍ پر ځای نرمه رویه او چارچلن اختیار کړو، نو زموږ د بحث پایله به په لسو کې نهه وار د بریالیتوب پایله وي، د ده ځینې طریقې (لارښوونې) په بحث کې عملي کول زموږ د بریالیتوب راز کېدلی شي، مثلاً تګلاره یې دا ده، چې خپل مخالف څخه په بېلابېلو لارو پوښتنې وکړئ او د بحث ډګر ته یې را کوز کړئ، د سقراط دا مشهورقول دی: (زه په یقیني ډول په دغه یوه خبره پوهېږم، چې زه په هیڅ نه پوهېږم.) نوموړي به پوښتنې ډېرې په اسانه پیل کړې

او ځوابونه به يې هم ډېر لنډو، خو په ورو-ورو به پوښتنې سختېدلې، سقراط به له دغه لارې خپل د مخالف عقايدو او دريځ ته د رسېدلو کوښښ کولو، د دې پوښتنو پايله به عموماً دا وه، چې د دليل او بحث په دوران کې به ټول تضادونه را ښکاره شول، د مخالف الفاظ به يې بې وزنه کړل او د خپل هدف په جال کې به يې راونغاړو.

د دغې طريقې استعمال نن هم دومره ګټور دی، لکه څومره چې د سقراط په زمانه کې و، په دې اساس د سقراط په څېر بصيرت او استقلال ته هم اړتيا نشته، دغه عمل ډېر ساده دی، خپل مقابل دې ته پرېږدئ، چې د الفاظو ټول تيرونه پر تاسو وار کړي، دا په دې خاطر چې دا فکر ونکړي، ګوندي حريف يې له ماتې سره مخ دی، ده ته بايد د دې خبرې اندازه معلومه نه شي، چې د بحث د موضوع الفاظ يې هغه خواته روان دي، چېرته چې ورته دام خور دی.

هر کله چې خپل منزل ته ورسېدو او خبرې يې پای ته ورسېدې، بيا تاسې د دې د ټولو خبرو په پايله کې بايد يو څو اړين ټکي په پام کې نيولي وي، چې په اړه يې ترې څو پوښتنې وکړئ، شواهد او ثبوتونه وړاندې کړئ، تر څو دی يې په مقابل کې بې ځوابه شي.

په حقيقت کې د سقراط دغه لار ډېره رښتينې ده، هر هغه څوک،

چې د ډېرې غوسې پر وخت په جوش او جذبه کې راشي او خپل مخالف سره مخامخ شي، نو د بحث په دوران کې ورسره الفاظ هغه ډول نه پاتې کېږي، چې قناعت بښونکي وي.
دغه ناوره کړنه، چې موږ نه د غوسې پر مهال کېږي، په ورځني ژوند کې ور سره ډېر مخ کېږو، خو د یو څه ځنډ وروسته، چې یو څوک زموږ په خبرو نیوکه وکړي او په تکراري ډول یې راته ووایې، چې دا دې څه وویل؟ په دغه وخت کې موږ ته دا احساس پیدا کېږي، چې هغه بد کلمات؛ څو شېبې وړاندې مو چې بیان کړ، پرې پښېمانتیا ښکاره ګندوو، ځان راته یو ډول خجالت او پر ښکاري او په خپله په ځان نیوکه کوو.
همدغه کړنه په ټولنه کې د بې باورۍ او شخصیت وژنې سبب کېږي، چې هر څوک راته بیا بد اخلاقه وایي او څنګ را څخه کوي، د هر چا تر تهدید او نیوکې لاندې را ځوو، د اختلافي رایو په صورت کې موږ ته دا اندازه لګېږي، چې زموږ دلایل بې وزنه دي، نو د دغې ماتې او حقیقي اعطراف نه د ځان ژغورنې په پار باید یو اخلاقي او ټول منلې چارچلن اختیار کړو.
دا معلومه خبره ده، چې د انسان په شخصیت جوړېدنه کې لومړی تر هر څه وړاندې د هغه اخلاق، تعلیم، دیني زده کړه او کورنۍ تربیه ډېر رول لري، نو که غواړئ، چې د هر چا په زړه کې اوسئ، بیا به د خلکو لپاره هماغه ډول ځان جوړوئ، چې د ټولنې د وګړو

غوښتنه وي.
که چېرې تاسو غواړئ، چې خپل د مخالف نظریات لاسته راوړئ او په هغه یو ډول اغېز ولرئ، نو دغه لاندې څو اړین اصول په نظر کې ونیسئ:

## ۱. سوال (پوښتنه) کول:

ولې؟ څنګه؟ که چېرې تاسو ته دا ډول پوښتنې سمې او مناسبې ښکاري، نو په همدې لارښوونه د خپل مقابل لوري دلاېل بې نقابه کړئ، تر څو تاسو ته ښه واضح او بر بند شي، خو پوښتنې ډېر په دقت کول په کار دي، تر څو مخاطب مو دا محسوس کړي، چې تاسو د حقیقت غوښتونکي یاست، د ده په رایو او نظریاتو کې باید ډېره دلچسپي ولرئ، په ده باندې د یو حقیر او یا د نادان شخص پر ځای لکه د سقراط په څېر (استاذ) درجه ورته ورکړئ او په کرار-کرار یې د دلاېلو زېرمه څرګنده کړئ، د موضوع اصل او محتوا درنه باید تیت و پرک نه شي، که نه د بحث سلسله به اوږده شي.

## ۲. په خپل مزاج حاکم اوسئ!

لکه مخکې مو چې وویل، پوښتنې ډېر په نرمی، ازاد او خوش اخلاقی سره باید تر سره شي، ممکن په ځینې خبرو کې به تاسو اختلاف ولرئ، خو په داسې حال کې به د جدیت څخه کار نه

اخلئ.

خپله لهجه به روانه ساتئ، که جدیت او توندي مو اختیار کړه، نو ډېر ژر به، لکه په کوم سوزېدلي شي د تېلو تاثیر وګورئ، نو تاسو به په همدې بناء د مقابل لوري څخه هیڅ تر لاسه نکړئ، بهتره به دا وي، چې یو دوستانه فضا رامنځته کړئ، که تاسو نن له دې لارې بریالي نشوئ، نو په راتلونکې کې به حتماً خپل رقیب ځانته تسلیم کړئ.

## ۳. د بحث پر مرکزي ټکي باندې حاکم اوسئ!

خپل د بحث موضوع داسې وټاکئ، چې تاسو پرې سل په سلو کې حاکمیت ولرئ او که مقابل حریف مو خپل مقصد د تر لاسه کولو لپاره ډېر په هڅه کې و او بې له کوښښ څخه یې بله موخه نه وي، نو په داسې حال کې تاسو خپل جذبات په اختیار کې وساتئ او خپل سیال په داسې کړلېچونو تاو راتاو او بیا یې خپل بنستیزې منځپانګې ته را نږدې کړئ، د پوښتنو له لارې د ده توجه په اصلي موضوع یا د بحث په جریان باندې یې قایم وساتئ، او په تدریجي ډول یې په ذهن کې ټول نغښتي استدلالونو باندې پوهه تر لاسه کړئ.

**۴. کله چې موضوع روښانه شي:**

کله چې موضوع واضح شي او مقابل سيال دې پايلې ته ورسېدو، چې دلايل يې ختم شوي، نو په داسې وخت کې تاسو خپل دلايل وړاندې کړئ، چې هغه پر خپلې ماتې قانع شي، په همدې موقع کې ستاسو خبرې به ډېر ژور اغېز پرېږدي، د دې طريقې بر عکس که تاسو په لومړي سر کې دا دلايل وړاندې کړی وای، نو دومره به اغېزمن نه و تمام شوي.

تاسو فقد دومره وکړل، چې مقابل سيال مو خپل موقف ته د رسېدو لپاره ورته لار جوړه کړه، نو دا چې تر دا مهاله ستاسو رقيب خپل د دلايلو ټول تيرونه پر تاسو وار کړي او اوس هيڅ په لاس کې نه لري، نو مجبور دی، چې په خپله تسليم شي.

په همدغه وخت کې تاسو د موقع نه په استفادې سره ګټور دلايل وړاندې کړئ، چې مخاطب مو بې خوابه پاتې شي او ستاسو خبرې، لکه د تبر په څېر د هغوی په زړه ننوځي او ډېر په اسانۍ ماتې سره مخ شي او ستا د بحث موضوع ستا په ګټه پای ومومي.

دا طريقه سقراط ته منسوب ده، چا چې په خپل ټول ژوند او تر وروستۍ شېبې پورې خپل جذبات په خپل واک کې ساتلي او خپل مخالفين يې په ډېرې اسانۍ سره د حقايقو او دلايلو په هنر ځان ته راجلب کړي.

**۵. خپل د ذهن دروازې خلاصې وساتئ:**

امکان دې ولري، چې د مخالف نظریه سمه وي، په داسې حال کې د بحث پر مهال تاسو له داسې رویې څخه کار واخلئ، چې مقابل لوری مو ډېر په نرمۍ سره تسلیم شي، د بدسلوکۍ او بد اخلاقۍ څخه ډډه وکړئ، په همدې سبب به د خپل سیال زړه وګټئ او په بحث کې د ماتې خوړلو با وجود دا به ستاسو د ژوند هغه ګټه وي، چې په ټول عمر کې به نه هېرېدونکې خاطره وي او ستاسو د بریالیتوب لپاره به نوره هم لاره جوړه او روښانه شي.

**۶. ښه او بد د انسان په تقدیر پورې اړه لري:**

په آیینه کې د خپل ذات لټول د ناهیلۍ لومړی پړاو دی، چې د ماتې او په ژوند کې د بدو اغېزو سبب کېږي، انسان په ټولنه کې هغه وخت په رواني رنځ اخته کېږي، چې د کوم عمل پایله د ده د غوښتونو اړوند نه وي او ده ته دا پایله ډېره اړینه هم وي، نو انسان خپل کوښښونه ترک کړي او ځان په خفګان کې واچوي.

د تقدیر سره په جنګ وي، په خپله ناکامه هڅه اوښکې تویوي او ځان لپاره یوازېتوب غوره ملګری بولي، زموږ په ټولنه کې ځینې داسې وګړي هم شته، چې د یو کار تر سره کولو څخه وروسته په خپله پرېکړه او عمل پښېمانه نه وي او خپل د ناکامۍ عوامل همدا یو څو خبرې ګڼي، خو دې خبرې ته یې فکر نه وي، چې دا

پرېکړې د انسان په اختیار کې نه وي، بلکه دا د تقدیر پرېکړه او د الله تعالی رضا وي.

مثلاً: یو زده کړیال (محصل) د آزموینې پر مهال د سختې پانې پر وړاندې مخکې تر مخکې ځان ناکام بولي او دا چې بیا ښوونکی یې هم سخت دریځه وي، په هیڅ یوه پوښتنه کې د ده د خوښې کومه نښه نه تر سترګو کېږي، مجبور چې ځان ناکام وبولي او بیا د تشې پانې څخه ملاتړ ونه کړي، نو دا هم د تقدیر پرېکړه ده، ځکه چې ده د کتاب لومړی مخونه مطالعه کړي او پوښتنې په وروستي مخونو کې راغلې وې، دا خبره د ده په اختیار کې نه ده، بلکه دا د قسمت او نصیب خوښه وه.

بل مثال: یو سوداګر چې د پر لپسې تاوانونو څخه تنګ راشي او په دغه لار کې یې ښې ډېرې پیسې مصرف کړې وي، نو بالاخره خپلې سوداګرۍ ته د پای ټکی کېدي، دغه تاوانونه او زیانونه د ده په تقدیر پورې اړه لري، نه د انسان په اختیار پورې.

په دغه مثالونو کې مشترکه (ګډه) کلمه د (تقدیر) ده، یعنې هر هغه څه، چې انسان ته پېښ شوي او پېښېږي، دا د انسان تقدیر دی، په داسې حالاتو کې یو شخص ته په کار ده، چې خپل همت له لاسه ور نګړي او دغه مسایلو ته لاس تر ځنې کیننې، مبارزه دې وکړي، د ډېر ناهیلی نه ځان راوباسي او د ژوند نورو برخو کې بوخت شي.

په حقیقت کې زموږ هر فکر او عمل ته صلاح مشوره اړینه ده، چې په پایله کې زموږ لپاره د بریالیتوب لار روښانه کوي، بې پایلې قدمونه، استقلالیت ته نه پاملرنه او د اداري کمزورتیا موږ د جهل (ناپوهي) او د ناکامۍ تورو کندو ته غورځوي.

ځینې خلک چې په یوه کار کې ناکام شي، بیا هغې کار ته شا کړي او خپل کوښښونه په هماغه ځای پرېږدي، د بریالیتوب لپاره یې هڅه نه کوي، چې همدا د ناهیلۍ او رواني ناروغۍ یو غټ لامل ګرځي، په دغه برخه کې ډېر مثالونه شته دي، چې یادې ستونزې ته د پای ټکی کېدي او زموږ لپاره په تیاره کې د ډیوې په مثال دي، لکه یو حدیث شریف کې محمد صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایلي: ((اللّٰه تعالی د هغه چا ملګری دی، چې ثابت قدمه وي.)) په دغه وړه جمله کې د انساني هوډ، هاند او هڅې یو لوی درس نغښتی، تاسو هیڅکله هم د ستونزو پر وخت مه ازر ده کېږئ، خپله اراده اوهمت له لاسه مه ورکوئ، تل پیاوړي اوسئ.

همدا ناهیلي او خفګان په پوره توګه د ماتې او ناکامۍ نښې دي، دا ناوړه په دې‌دې ستاسو د ژوند په یو ټاکلي معاملې پورې محدود نه وي، په کوم کې چې تاسو ناکام شوي یاست، بلکه په کرار-کرار ستاسو د شخصیت د بربادۍ سبب کېږي، ناهیلي د ناکام ژوند سره، لکه د ماتې ښښښې مثال لري.

مایوسي سره د جنګ او مبارزې لپاره همېشه هره مسله د یو

ملګري په څېر تصور (تشبیه) کړئ، کله چې دغه ملګری له تاسې څخه په یوه کوچنۍ خبره ماړېجن شي، نو ژر یې د پخلا کولو هڅه وکړئ، تر څو مسله ګونګه پاتې نه شي او هر څه ستاسو په خوښه پای ومومي.

که په دغه لاربښوونو ستاسو ذهني فشار کم نه شو، نو بیا بله لار اختیار کړئ، خو لاس تر زنې مه کینئ، چې دا خاموشي ستاسو د ژوند او شخصیت لویه بربادي کېدلی شي.

**۷. له ناهیله کوونکو خبرو څخه ډډه وکړئ:**

د ژوند مسایل د لوبې یوه برخه ده، د دغه لوبې د ګټلو لپاره خپل نفس، وجدان او ضمیر پیاوړي ساتل په کار دي، په پراخه زړه، حسنه اخلاقو او صمیمانه خواصو یې د حل لاره پیدا کړئ.

د خپل بدن داخلي جوړښت د پیاوړتیا لپاره اړینه ده، چې له ناهیله کوونکو ویناوو څخه ځان وژغورو، اصلاً ماتې منونکې خبرې د ماتې سبب کېږي، بیا دغه ماتې د ذهني او رواني ناروغۍ لامل وي، نو په لنډه توګه باید ووایم، چې خپلې حوصلې پیاوړې وساتئ، لا یې د ښو الفاظو او خوندورو جملو په کارولو ځواني کړئ، داسې خوندورې او زړه راښکونکې جملې، چې د امید، یقین، باور او بریا خوشبویانې ځینې راشي.

د ناکامېدو په صورت کې باید ناهیلي نشو، ماتې او ناکامي خو په

ژوند کې ځي راځي، خو د دې له امله باید انسان نا امید نشي- اونه دې د خپل فکر انداز بدلوي، بس خپل پلان دې تغیر کړي او له دې تجربو دې د راتلونکي لپاره مثبته ګټه پور ته کړي، په زغم او حوصلې سره تاسې د نیمایي مسلې حل لاسته راوړلی شئ، همدارنګه پراخه فکر، ښه سوچ او په نوي انداز د خواب ویلو جرأت لپاره زمینه برابریږي.

دغه دوه لفظونه (هو) او (نه) ستاسو په ژوند کې ډېر څه بدلولای شي، مثلاً: په (هو) ویلو غور وکړئ، څکه دغه لفظ زړه راښکونکی او د امیدونو بنسټ دی، دغه ادات د یوې نازکې، شرمګیرې او په تت شوي غږ د محبت اظهار دی، د سهر پر مهال د ګل پر پاڼو د شبنم یو څاڅکی دی، ژوند د هرې شېبې یقین دی، د ارادې پیاوړتیا او هرې ننګونې منلو اعلان دی او د آسمان هغه تندر او برېښنا ده، چې د ځمکې په سر په انسانانو د هیبتناکه غږ اواز کوي.

او (نه) تاسو ته د یوې مسلې څخه د پټېدو لار برابروي، تاسو د یوې موضوع د بحث څخه شاته کشکوي، لکه څنګه چې (هو) تاسو ته د یوې ستونزې د حل لپاره جرأت دربښي، همدارنګه (نه) مو جرأت له منځه وړي، (هو) تاسو سره ستاسې په شخصیت جوړونه کې مرسته کوي، تاسو ته پرمختګ او شهرت در کوي، خو (نه) بیا برعکس شخصیت زیانمنوي او نه مو پرېږدي، چې

پرمختګ وکړئ.

اوس بـه نـو تاسـو پـه دغـه دوه اداتـو (هـو-نـه) بانـدې غـور کـړئ وي او دا بـه مـو هـم درک کـړي وي، چـې زمـوږ پـه ژونـد کـې څـومره بـدلون راوسـتلی شي او څـومره یـې زمـوږ پـه ورځنـي ژونـد کـې اغېـز ډېـر دی، نو پایله دا شوه، چې د هـر کـار لپاره بنسـټیز فکـر او غـور کـول پـه کـار دي، چـې پـه همـدې بنـاء سـتاسـو هـره پرېکـړه د ژونـد د مثبـت بـدلون سبب شي.

**۸. په ځان کې د ښه خصلت او صبر نښې وځلوئ:**

د نـاهیلۍ پـر مهـال سر پـه زنګـون او خفګـان نـه لـرې پـاتې کېـدل پـه حقیقـت کـې د ښـه خصـلت او صـبر نښـې دي، مخکـې مـو یادونـه وکـړه، چـې انسـان د بریـالیتوب راز پـه هغـه خـبرو کـې دی، چـې پـه ځـان کـې د ناکـامۍ پـر وخـت د صـبر او حوصـلې پـوره اختیـار ولـري، خپلـه هوډمنـه اراده او جـذبات پـه کنـټرول کـړي، کـوم شـخص چـې د مصیبت پـر وخـت خفګـان نـه محسوسـوي، خپلـو موخـو پـه تـر لاسـه کولـو کـې ګړنـدی وي او صـبر پـه اختیـار کـې ولـري، هماغـه شـخص د بریـالیتوب حقـدار جـوړېږي، د شخصـیت او پـه مقـام جوړونـه کـې یـې د مرسـتې سـبب کېـږي او تـل بـه پـه خپلـو خواهشـاتو لاس بـرى وي، پـر تـه لـه دغـې تګـلارې هـېڅ شـخص پـه ژونـد کـې د بریـالیتوب جـام نشي نوش کولی او نه به یې څښتن شي.

د دغې موضوع تشریح او ثبوت لپاره د ښه خصلت، صبر او زغم یو ښه مثال د اوسني پېر تکړه لیکوال، ژباړن، کره کتونکی د افغانستان د علومو اکاډمي ـ د پښتو څېړنو دبین المللي مرکز مشر ـ (څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي) دی، چا چې د کابل پوهنتون د ژبوادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې د لسانس، ماسترۍ او بیا د دکتورا سند په لاسته راوړلو کې، لومړیتوب ترلاسه کړی، دسلو په شاوخواکې لیکلي او ژباړلي چاپ شوي اثار، چاپي او غړیزو رسنیو کې په سلګونو خپرې شوې څېړنیزې مقالې او مرکې لري، چې دپښتو ژبې او ادب پانګه یې درنه کړې ده، سربېره پردې یې د هېواد دننه او دهجرت د چاپېریال په پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دوکتورا تر کچې د تدریس او څېړنو له لارې د نوي نسل د علمي او فرهنګي روزنې په پار نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کړې دي.

نوموړی د ننګرهار ولایت، کوزکونړ ولسوالۍ د بډیالۍ قریې، دسیدودې کلي اوسېدونکی او د سیدانوپه روحاني کورنۍ کې سترګې نړۍ ته پرانستي دي.

د هغه د علمي ـ فرهنګي شخصیت په جوړښت او پاېښت کې دهغه د لیکنو او څېړنو ترڅنګ نور لاملونه پیاوړي علمي ادبي ذوق او استعداد، ښه خصلت، حلم او کمیني، په بدو او سختو حالاتو کې صبر، زغم او لوړه حوصله ده، په متواتر ډول یې کوښښ کړی او

په نه کېدونکو کارونو کې یې هم بریالیتوب تر لاسه کړی، نو تاسې هم د دغه ډول وګړو له حوصلې څخه زده کړه وکړئ، خپل همت پیاوړی کړئ، تر څو ژوند مو له خوښیو ډک او د بریالیتوب راز وګرځي.

## ۹. خپلې پرېکړې له تر سره کولو د مخه تجزیه کړئ!

د هرې پرېکړې ناکامي او د بریالیتوب دارو مدار تر ډېره موږ پورې اړه لري، د معاملاتو پر وخت خپل د نظر یا د بل نظرته اړ یوو، د دې لپاره، چې په خپلو پرېکړو پښېمانه نه شو او ځنګه ور څخه ځان وژغورو، نو اړینه ده،چې په ښه توګه یې څو وار شننه وکړو، ترڅو پرې پوره حاکمیت تر لاسه کړو، که چېرې د ناکامۍ سره مخ شو، نو باید په پیاوړي زړه او ښه دقت د ناکامۍ پر توکو او لاملونو غور وکړو.

د دغې تجزیې لپاره موږ باید خپل ځان او یا په خپلو پرېکړو پوره ځان پوه کړو، ډېره غوره شننه هغه ده، چې د هرې برخې لپاره په پراخه ذهن او غورځځه کار واخېستل شي، دا یو حقیقت دی، چې د ناکامو وګړو حوصلې کمزورې وي، دوی د خپلو حرکاتو پر بنسټ د ناکامۍ رخ اختیاروي او بیا خپل د ځان دښمن شي، دغه ډول وګړي په سمه توګه خپل ځانونه نه پېژني او د هر عمل د تر سره کولو لپاره په خپلو ارادو بې باوره وي.

اصلاً په دنیا کې داسې یو څه هم وجود لري، چې ډېر په ستونزو لاسته راځي، هغه د انسان خپل ذات دی، دغه ذات بې شمېره بېلګې لري، هره بېلګه لکه آیینه ده، چې دغه آیینه کې د انسان د هر سوچ او فکر انځور په هره شبېه منعکس کېدلی شي، لکه: نرم، سخت، ژور، رنګین، بې رنګه، وېرونکی او... دا هر یو د انسان د ذات په آیینه خونه کې یو ځانګړی ځای لري، عموماً داسې کېږي، چې موږ په دغه ځانګړنو غور نه کوو او په خپل ذات بې باوره یوو.

همدارنګه سوچ، فکر، صلاحیتونه او هغه څه باندې نه لاس برې کېږو، کوم چې زموږ دننه نفس او ذهن کې وجود لري، بیا نو د ناکامۍ په صورت کې د زمانې او وخت نه د بې قدرۍ ګیلې کوو.

د دغه ناکامۍ یو لامل تولنیزې ستونزې هم کېدای شي، چې سهار او ماښام ور سره ښکېل یوو، دومره وخت نه پیدا کوو، چې لږ د ځان په اړه فکر وکړو، ترڅو یو لوړ مقام ته ورسېږو، بل لامل یې نفسي-خواهښات هم دي، موږ په اطرافي سیمو کې داسې ډېر وګړي لرو، چې د ځان پېژندنې او شهرت سره هېڅ علاقه مندي نلري، د بل چا په نقل خبرې کوي، د هرې موضوع د بحث لپاره په ځان ډېر فشار راوړي او د هغوی نه متاثره وي.

ځینې خلک د هرې مسلې د حل لپاره منظم پلان او باهدفه نسخې لري، چې هره شبېه د دوی په واک کې وي، خو دا وګړي په ځان بې باوره وي او خپلې خبرې ناسمې بولي، حقیقت دا دی، چې دا

ډول وګړي لـه حقـه وېرېـږي او کوښـښ کـوي، چـې د رښـتيا ويلـو پـر وخـت پـه خپلـو جـامو کـې ځانونـه نـور هـم راونغـاړي، د خپلـو اعمالـو او افعـالو د تجزيـې څخـه وېـره لـري، او د هـرې ادعـا د ثبـوت پـر وخـت چـپ پـاتې کېـږي، د حـق پـر وړانـدې نـه خپـل نظـر څرګنـدوي او نـه د بـل مشــورې تــه غــوږ ږدي، دا ډول وګــړي بيــا د شــګو لــه بنــد سره تشـبيه دي، چـې د لـږو اوبـو پـر وړانـدې هـم مقاومـت نشيـ کولای، نـو لـه همـدې املـه پـه تولنـه کـې تـر ټولـو وروسـته پـاتې او تـل لـه ناکـامی او بربادی سره لاس او ګرېوان وي.

# خپلې بدې کړنې وسوځوئ!

یو مشهور فیلسوف کردار داسې راپېژني: ((**کردار د یو داسې اخلاقي حسن تربیت نوم دی، چې مظاهره یې د یو فرد ذات سره وي.**))
د لوړ کردار څښتن د ټولنې د ضمیر حیثیت لري، چارچلن چې ښایسته وي، د انسان د فطرت بهترینه نمونه ترسترګو کېږي، څکه چې د کردار په سبب د انسان عضمت او لوړوالی معلومېږي، د ژوند په هره شېبه کې چې څوک زحمت کښ، ایماندار او با وصوله وي، هغوی همېشه د عزت څښتنان وي، د دا ډول وګړو سره د هرې خبرې قدر وي، په ټولنه کې د باور سرچینې وي، هر څوک غواړي، چې
د دوی تګلاره خپله کړي، که دنیا کې دا ډول وګړي پاتې نه شي، نو دا نړی د جهنم په مثال ده، ژوند بې خونده او بې مینې وي.
په دې کې هېڅ شک نه شته، چې د یو با استعداده او ورتیا لرونکي شخص په لیدو، وګړي د هغې په ستاینه پیل کوي، خو د انسان ښه او لوړ کردار د دې لامل کېږي، چې په ټولنه کې د خلکو په زړونوکې محبوبیت پیداکړي.

ستاينه کول يو ذهني فعل دی، خو عزت کول د زړه سره اړيکه لري، په ژوند کې چې تر اخره حکمراني تل پاتې ساتي هغه زړه دی. هوښيار (قابله) خلک په ذهني باور په ټولنه کې ممتاز وي، خو تر دې هم د لوړ کردار لرونکي هستي په ټولنه کې د وګړو پر وړاندې د ايمان درجه لري.

پيروي د داسې شخص کول په کار دي، چې په ټولنه کې د خلکو پر وړاندې ځانګړې محبوبيت ولري، ټول منلی شخص وي او په خپله نېک خويه هم وي.

د عام انسان ژوند دومره محدود وي، چې ډېرو کمو وګړو ته دا موقع په لاس ورځي، ترڅو خپل شخصيت جوړ کړي، خو له داسې حالاتو خوابدول نه دي په کار، مبارزه کوي او د مبارزې په پايله کې ځان لوړ مقام ته رسوي.

هر هغه څوک چې په ايمانداری سره خپل ورسپارل شوې دندې په سمه توګه تر سره کوي، نو هغه شخص د عزت او منصب څښتن شي، هغه نعمتونه او صلاحيتونه، چې الله تعالی ورته ورکړي، بايد شکر يې ادا کړي او په سمه توګه يې وکاروي، نو پر همدې بنسټ به يو ښه نوم لاسته راوړي.

ځينې وګړي په عادي-عادي خبرو کې هم خپله ايمانداري او رښتينولي ساتلی شي، دا ډېر اسان کار دی، فقد په خپل نفس حاکم اوسېدل غواړي، د نورو پر وړاندې ښه سلوک او حسنه اخلاق درلودل د ښه شخصيت استازولي کول دي، په ټولنه کې دا ډول رويه کول په هر انسان فرض ده، هغه غريب وي که شتمن.

د ایمانداری تر څنګ انسان باید خپل مقاصد او موخې هم په ښکو اصولو اړوندې کړي، که چېرې اصول مراعت کړي او په سمه لار روان وي، نو بیا دا انسان د هغې کښتۍ بېلګه ده، چې په دریاب کې غتو- غتو څپو پر وړاندې ځان پیاوړی بولي او د ساحل غاړې ته رسېږي.
د مفکرۍ او هوښیارتیا بېلګه په ډېرو کمو وګړو کې لیدل کېږي، خو پوښتنه دا ده، چې په فکر باندې انسان عقیده ولري او که قابلیت باندې؟ ښکاره خبره ده، چې هر کله یو څوک صداقت، رښتینولي او ایمانداري ونه لري، نو بیا هېڅکله باید په دې دوه کلمو (ذهانت او قابلیت) باور هم ونه لري، نو دا ثابته شوه، چې همدا هغه صفتونه دي، چې په ټولنه کې د انسان د عزت او باور سبب کېږي.
قابلیت او وړتیا د انسان په شخصیت جوړونه کې بنسټیز رول لري، د ښه فکر خاوند په رفتار او ګفتار کې د هرې خبرې ښکارندوی وي او په هر فعل او عمل کې یې شتون لري،چې د دې په شتون سره انسان د باور او یقین سرچینه بلل کېږي.
د باور وړ انسان هغه چا ته ویل کېږي، چې د زړه او ژبې اړیکه یې یوه وي، خپلو خبرو ته د عمل جامه ور اغوندي، هره ژمنه چې کوي هغه سر ته رسوي، درواغجن او بې ایمانه نه وي، همدا دلیل یې د شهرت او شخصیت جوړونې سبب کېږي او په ټولنه کې یې هر څوک عزت کوي.
د ژوند په هره معامله کې د ذهانت دومره اغېز نه وي، لکه څومره چې د کردار او سلوک وي، د ذهن پر ځای زړه او د قابلیت پر ځای صبر، تحمل او د استقامت ارزښت څو چنده زیات وي.

په ژوند کې نور له دې بله اړینه لار څه کېدای شي، چې ټول ژوند دې بریالی او د غوره شخص په نوم ونومول شې، په خپلو کړنو او خبرو باندې عمل کول انسان تر لوړو پوړو رسوي او ژبه کې یې الله تعالی برکت اچوي، په ژوند کې ډېرې تجربې لاسته راوړي او په پایله کې د نېکو اعمالو خاوند شي.

پوره پوهه هغه ده، چې د دین او دنیا دواړو خیال پکې وساتل شي، یو عالم وایي: ((د نېکۍ او پوهې تر منځ ډېرې نږدې اړیکې دي، نو انسان باید پوه شي، چې دواړه یو له بله نه بېلېدونکي دي.))

د دې علت دا نه دی، چې انسان د ډېرې عقلمندۍ پر بنسټ نېک وي، بلکه اصلي لامل یې دا دی، چې انسان په نېک خوی او حسنه اخلاقو هوښیار بلل کېږي، یو مفکر د دې خبرو د اثبات لپاره لیکي: ((د انسان نېک خوی، د هغه بهترینه سرمایه ده.))

ښه کردار او ښه خوی لرونکی شخص په کرار- کرار خپل شهرت په خلکو کې ورګډوي، د داسې وګړو منل شوي خصلتونه هېڅکله پټ نه پاتې کېږي، کېدای شي د داسې وګړو په اړه خلک غلط فکر ولري، خو د هغه د صبر او زغم په پایله کې یو څه موده وروسته، هغه ته په درناوي او ادب قایل شي.

د ښه کردار ودانۍ په کوچنۍ- کوچنۍ خبرو جوړېږي او دا هر څه د انسان په واک کې دي، چې خان لپاره څه ډول ودانۍ جوړوي، د ښه تربیت لرونکي شخص هر فعل د بریالیتوب راز ګرځي او د ټولو کړنو پایله یې مثبته وي.

بد فعل د انسان په خیالاتو، احساس او عادتونو باندې ناوړه اغېز لري، انسان په حال زمانه کې د دې خبرو په اثراتو نه پوهېږي، خو د ده په راتلونکي ژوند بد اغېز کوي، چې بیا وروسته له پښېمانتیا بله لار نلري، د ځوانۍ پر مهال انسان پوره حاکم دی، چې ځان لپاره څه ډول راتلونکی ټاکي (ښه یا بد) ښه تربیت او ادب انسان په ښه نوم نوموي او ژوند یې د پرمختګونو څخه ډک وي، هغه پښتو متل دی: (ښه خوی به دې سلطان کړي، بد خوی به دې په ځان پورې حیران کړي.)

دغه ډول کردارونه یو میکانیکي قاعده ده، عمل او ښه عمل دواړه سره برابر دي، خو د ښه عمل قاعده په اخلاقي سلسلې پورې ډېر تړاو لري او د ناوړه کړنو عمل او بد فعل انسان په هر صورت کې په بد نوم نوموي، دا ډول وګړي په هر چا ناوړه اغېز کولی شي، ځکه چې د دوی د عملونو ډېرې نمونې په ټولنه کې شتون لري، د هر چا پر وړاندې بې احترامي او بد اخلاقي د دوی عادت ګرځېدلی وي، دا هر څه دوی په خپل واک کې لري، کولای شي، چې په ژوند کې مثبت بدلون راولي، خو له بدو ګرځېدو یې تربیت همداسې اخېستی، چې اوس ورته په بد سلوکۍ او بد اخلاقۍ ځان ښه ښکاري.

انسان د حالاتو په اختیار کې دومره نه وي،لکه څومره چې حالات د انسان په اختیار کې وي، د پیاوړي هوډ په استعمالولو کولای شي، خپل د کړنو رهبري په داسې توګه تر سره کړي، چې د ناوړه کړنو پر ځای ترې ښه فعل زوکړه وکړي.

ښه خوی او ښه سلوک په ډېرو کوښښونو لاسته راځي او د کوښښ لپاره

پیاوړې اراده او هوډ ته اړتیا وي، انسان ته په کار ده، چې هره شېبه د ځان څارنه وکړي او خپل ذاتي تربیت په پرمختګ راولي، ځینې وخت انسان ډېرو ستونزو سره مخ وي، غمونه، دردونه، اندېښنې او... کې ښکېل وي، چې له امله یې حوصله له منځه ځي، خو په کار دا ده، چې د هرې ستونزې پر وړاندې مبارزه وکړي، خپله حوصله او د هر غم د زغملو توان ولري، ترڅو ژوند یې د بریالیتوب راز شي.

په حوصلې او زغم سره د انسان همت لا پیاوړی کېږي او هره کړنه یې مثبته پایله لري، که چېرې انسان په لوړ زغم د اخلاقو لوړپوړ ته ونه رسېږي، نو هېڅ خبره نده، په کرار-کرار به یې ژوند کې ډېر مثبت بدلونونه راشي او همدارنګه به په ډېرې اسانۍ سره د هر چا په زړه کې ځانګړی ځای پیداکړي.

که چېرې موږ د کوم نېک خویه یا د هغه شخص، چې د انسانیت غوره بېلګه وي، د هغه د ادابو او یا د حسنه اخلاقو سره سیالي وکړو او دا ژمنه ولرو، چې موږ به تر دې شخص هم ډېر ښه ټولنې ته ځان ورپېژنو، نو بیا دا هېڅ ستونزمنه نده، چې انسان خپل ځان د ښو کردارو معیار ته ورسوي، بلکه دا په ډېرې اسانۍ سره کولای شي، چې په خپلو موخو لاس بری شي.

د مال دولت د سیالۍ پرځای به یې د نفس او روح لوري ته ذهن واوړي، د منصب پر ځای به یې نېکۍ ته مخه شي، دنیاوي اثرات به پکې کم او د اخرت فکر به یې ډېر شي او همدارنګه، ایمان به یې هم پیاوړی شي.

د انسان ښکارندوی د هغه له کړنو جوتېږي، اصول، ایمانداري او

عقلمندي د انسان د سلوک او رفتار لارښوونه کوي، کله چې د یو نېک فرد په اراده، مذهب، اخلاق، شخصیت او په ښو عملونو غور کوو، نو هرو مرو زموږ رفتار کې مثبت بدلون را منځته کوي، د یو نېک عمله او ډېر ښه وګړي (شخص) دا ځانګړنه ده، چې هغه تل د نورو خیال ساتي او درناوی یې کوي، په ظاهر او باطن دواړو کې له خلکو سره د ښه چلند په اړه فکر کوي، شهرت طلبه نه وي او زیات فکر یې د بل خدمت کولو ته وي.

په دنیاوي خواهشاتو بې پروا، پر نفس حاکم او د خپل ضمیر ښوونکی وي، د بل شخصیت درناوی او د هغې احترام کول خپله وجیبه ګڼي، په انفرادیت او ازادۍ تل لاس بری وي، کله چې په کار کې د ایمانداری اراده ولري، نو د شیطان نه مني، خپل کار پایلې ته رسوي، دی پر دې داډه وي، چې په راتلونکي کې به ضرور خلک د ده صداقت او رښتینولي ومني او په درناوی به ورته قایل وي.

یو لیکوال وایي، کله چې یو انسان په خپل نفس او خواهشاتو لاس بری نشي، تر هغې دا انسان مجبور او په غربت کې دی او کله چې د ښه کردار په هغو خصلتونو، چې عبارت دي له: (پر نفس حاکمیت، پیاوړې اراده، لوړه پوهه او لویه حوصله.) برلاسی نه وي، نو تر هغې د دغه انسان ژوند ګونګ او بې موخې دی.

د پاک نفس لرونکي،سپېڅلې عقېدې او د پیاوړې ارادې څښتن، تل خپل مسوولیت ته ډېر ژمن وي او هیڅکله د ستونزو پر وړاندې خپل همت له لاسه نه ور کوي، د خپلو هوډمنو ارادو په سبب، په پېړی کې هم د کمزوری احساس نه کوي، تل هڅه کوي، چې د هرې جدي ستونزې پر

وړاندې مبارزه وکړي، ترڅو یوه ښه د حل لاره ورته وپلټي، یو بل ښه خصلت یې دا وي، چې کله هم د یو چا څخه په کومه خبره خواشینی اوسي، نو خبره زړه ته نه کوځوي، مقابل لوري ته دا احساس نه ورکوي، چې دی په کومه خبره ترې خفه دی، د ده خوی او طبیعت همداسې وي، چې هېڅ ډول انسان سره په زړه کې کینه او حسد نه ساتي، د خفګان پر مهال یې هم خبرې داسې وي، لکه خوښ او خندان.

دا معمول دی، چې د ښو اخلاقو څښتن تل د ښو خلکو سره ناسته او ولاړه لري، نو د دا ډول خلکو په لېدلو سره د ټولنې عام وګړي هم کوښښ کوي، چې د دوی په څېر مثال وګرځي، په ټولنه کې یو ښه شهرت لاسته راوړي او د هر چا په زړه کې ځانګړی ځای ولري.

ځینې وګړي د خپلو ښو اخلاقو په سبب په ټولنه کې یو ویاړلی نوم ګټي، هر تاریخ لیکونکی د داسې وګړو په واقعاتو او د کړنو په لیکلو ویاړي، ځوک چې د بشپړو اخلاقو درلودونکی وي، هغه شتمن، پیاوړی، له هر عیب څخه پاک او بې جوړې وي، چې تر قیامته یې نوم او بېلګې د هر چا په خولو کې وي، نور وګړي بیا د دوی اولادونو ته کېسې او داستانونه غږ وي، ترڅو په نوي نسل کې د ښې مفکورې او ذهنیت جوړونې دود عام او خپله اسلامي وجیبه سر ته ورسوي، اخلاق هغه شتمني ده، چې انسان هیځکله غربت ته نه پرېږدي،نو باید هر انسان د دې شتمنی څخه ځان برخمن کړي.

موږ د دا ډول اشخاصو ډېرې بېلګې په دیني او عصري دوارو علومو کې لرو، په اسلامي تاریخ کې د اخلاقو ستره او بې جوړې نمونه د حضرت

محمد صلی الله علیه وسلم شخصیت دی، د بشر په تاریخ کې دومره لوړ اخلاق د هیڅا نه و او نه به پیدا شي، بل خوا، که د همت او زړورتیا ذکر کېږي، نو بیا هم زموږ فکر او ذهن د بشریت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته اوړي.

اوس که د خارجي او غربي نړۍ تاریخ ته نغوته کوو، نو هلته بیا مؤرخین د (جولیس سیزر) ډېره یادونه کوي، ویل کېږي، دا یو داسې همتناک انسان و، چې په یوه جګړه کې تر دې حده تېي و، چې ټول وجود یې په وینو رنګ- رنګ و، خو بیا هم هغه خپل همت له لاسه نه ورکو، تر اخري سلګیو پورې یې په خپل دوښمن ډېر په بې رحمۍ وارونه کول.

ځیني خلک ومري، خو خیالات او اعمال یې د هر چا په زړونو کې نښان پاتې وي، له همدې امله یې روح ژوندی وي او خلک ورته په زړه کې ځانګړی ځای او درناوی لري.

د دا ډول وګړو نېک نوم دومره ګټور وي، چې زموږ راتلونکی نسل ترې اغېزمن کېږي او خپل ژوند د نېک نامۍ پر لور برابروي، ترڅو په راتلونکي کې دوی هم د تل پاتې مینې او شهرت خاوندان شي، د ښو کارونو پایله تل په بریالیتوب را څرخي، د معنویت له اړخه یو ستر انسان روزل کېږي، تر دې حده، چې نور وګړي یې د ښه خوی او ښه کردار مثالونه ورکوي، د داسې بریالیو وګړو بېلګه د هغې شمعې سره د تشبیه وړ ده، چې په یو لوړ ځای باندې اېښې وي او څلورو خواو ته یې رڼا خپره وي، د نېک او حسنه اخلاقو په سبب یې خلک له ځانه اغېزمن کړي وي او راتلونکی نسل د دغه شخص له پوهې څخه لکه د رڼا کار اخلي.

د مشهورو وګړو ستاینه او مدح کول د هغوی لپاره د نورو انسانانو په وجود کې په فطري ډول اخکل شوي وي، دا ډول انسانان که د هر مذهب او هر قوم وي، خو موږ یې د نېکو کارونو ستاینه کوو او خپلو اولادونو ته د هغوی بېلګې وړاندې کوو، داسې یو نېک او ستر انسان، نه یوازې د خپلې کورنۍ لپاره ویاړ وي، بلکه ټول قوم او ټول هېواد لپاره ویاړ وي، دا ډول انسانان حال په ماضي (تېر) کې ورګډوي او مستقبل (راتلونکی) خپل مقصد ګرځوي، د خپلو اصولو او اخلاقو بیرغ د ټول هېواد د نېک نامۍ لپاره تر آسمانه رسوي او په خپلو ټولو موخو بر لاسی وي.

کله چې د یو انسان لوړ کردار په فعل او قول کې ورګډ شي، نو هغه بیا د قیامت تر ورځې پورې د خلکو په زړه کې ژوندی وي، دا عام انسان بیا د مفکر په نوم نومول کېږي او د ټول عمر لپاره د خلکو پر ذهنیتونو مثبت تاثیر غورځوي.

مؤرخین هم د داسې وګړو دژوند دپېښو د لیکلو پر وخت د دوی پر کړنو ویاړي، لکه څنګه چې د تاریخ دوهم نوم حقیقت دی، نو ټول د حقیقت پر بنسټ د مشهورو وګړو داستانونه د تاریخ پر پاڼو خوندي کوي.

لوی- لوی واکمنان، فلسفیان، سیاستمداران، ملنګان او پر هېواد د مینو وګړو کېسې او خاطرې تاریخي مسایل ایجادوي، همد دوی کارنامې بیا زموږ راتلونکو نسلونو لپاره یو ښه لاربښود وي، د دوی د انفرادي فعل څخه د شخصیت پېژندنه کېدلی شي.

د یو قوم د نېکو او ښه کارونو اندازه یوازې په دې نه معلومېږي، چې په هغه قوم کې د کومې منل شوې څېرې په اړه معلومات تر لاسه کړو، بلکه

د هغه قوم د پیل نه تر پایه ټول تاریخ باید ولوستل شي، ممکن د دې قوم سیاستوال، فیلسوفان او د لویو علماو تر څنګ کېدای شي، چې داسې وګړي هم تېر شوي یا شتون ولري، چې بې سواده، غریبکاره او بزګران وي، دوی له دغې لارې هم کولای شي، چې نېک نوم حاصل کړي او خپلو راتلونکو نسلونو لپاره ښه بېلګه جوړه شي.

لکه څرنګه چې د یو انفرادي کردار ژوندي ساتل ډېر اړین دي، داسې د ټول قوم لپاره هم خپل کردار ژوندی ساتل په کار وي، د کوم هېواد وګړي چې ایمانداره، رښتیني او پاک نفسه وي، د هغه هېواد حکومت هم ایمانداره وي، او چېرته چې بد کاره، خودخوا او بې ایمانه خلک وي، هلته د موقع پرستو، فساد ګرو او چاپلوسو خلکو مثالونه ډېر شتون لري او بیا د داسې وګړو په سبب هېواد د بربادۍ او بدنامۍ سره مخ کوي.

ځیني خلک په ظاهره ډېر سپېځلي او پاک نفسه وي، خو د امیرۍ په جامه کې د فقیرۍ ډېر لوی مثال وي، داسې وګړي نه د دې دنیا وي او نه د اخرت، ټول عمر په فساد کې ښکېل او برباد وي.

په بې مسوولیته او بې احساسه خلکو صد افسوس په کار دی، بریالی انسان د هر کار لپاره پلان لري او د ژوند ټولې چارې منظمې په بریې مخته وړي، د انسانانو او حیواناتو تر منځ همدا توپیر دی، چې حیوانات بې شعوره وي، خو انسانان بیا عقل او شعور دواړه لري، چې د دې په ښستې ښه او بد پېژني او د یو پیاوړي ارادې څښتن ګڼل کېږي.

د دې لپاره، چې په خپلو ورځني چارو کې بریالي پاتې شو، نو لومړی باید له ځانه دا پوښتنه وکړو، چې څنګه خپلې ارادې پیاوړې کړو او شعار ته د

عمل جامه واغوندم؟ نو خوب یې همدا وي، چې په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره یو مناسب پلان ولرو، مسوولیت درک او احساس کړو.

مشران وايي: نن ورځ سبا لپاره تجربه ده، دا ربنتیا خبره ده، انسان باید په تېرو وختونو فکر ونکړي، څه چې تېر شي هغه هېرشي، غوره انسان هغه دی،چې راتلونکي لپاره ښه اراده او تصمیم ولري، تېر وختونه ورته یوه تجربه وي، له هغې باید زده کړه وکړي، څه چې د دې د خوښې پر خلاف تر سره شوي وي، هغه بیا تکرار نه کړي او سبا ورځ د یو نوي پلان سره پیل کړي.

د انسان تر ټولو غټه تېروتنه همدا ده، چې هغه د وخت اړوند خپل ځان نه چمتو کوي، همدا علت دی، چې بیا ناکام وي، له ژوند، وخت، کاروبار او له هر څه خوابدی وي، په همدې اساس یې بدني او دماغي ماشین سم کار نه کوي او په کرار- کرار د جنون حالت ته نږدې کېږي.

ځینې وګړي دومره بوخت وي، چې هېڅ فرصت نلري، البته ځینې یې په کار او روزګار بوخت وي او ځینې نور بیا په وزګار تیا کې مصروف وي، له دې یې هم معلومولای شو، چې غوره او بریالی انسان څوک دی او ناکام څوک دی، بېلګه: که یو څوک دا فکر وکړي، چې شپه او ورځ (۲۴) ساعته کېږي، اته ساعته د ورځې کار او اته په خوب تېروي، نو په منځ کې اته ساعته نور ورک دي، دا معلومول په کار دي، چې دا پاتې اته ساعته باید څه ډول تېر شي، هوښیار انسان یې بیا ښه معلومولای شي، دا ځکه چې هغوی د ژوند لپاره یو ښه او منظم پلان لري، هره ورځ د دې پلان او مهال وېش له مخې تېروي.

یو بل شخص چې هره ورځ دفتري دندې لپاره ټاکلی وخت لري، مثلاً: سهار له (اته) بجو پیل تر مازیګر (څلور) بجو پورې دوام کوي، کله چې له دفتر څخه راوځي په ځان ویاړي او وایي، چې ما نن ټوله ورځ په کار تېره کړه، خو د پاتې ساعتونو په اړه هېڅ فکر نه کوي، دې ته په ژوند کې همدا (اته) ساعته کار د ارزښت وړ دي، خو داسې نده د نورو پاتې ساعتونو لپاره هم باید یو مناسب پلان ولري، تفریح، کورنی، ملګري، لمانځه، د خوړو وخت، د اولادونو د روزنې لپاره او همداسې نور، د دې ټولو وختونو لپاره باید منظم پلان ولري، ترڅو چارې یې په ښه توګه مخته لاړې شي.

د بریالیتوب لپاره یوه بله لار هم شته اوهغه دا، چې موږ معمولاً ورځ د کار لپاره ټاکو او شپه بیا خوب کوو، خو ځینې وخت باید داسې هم وشي، چې د ځینې کارونو د منظم کولو په موخه شپې یوڅو ساعته وخت د راتلونکو تصمیمونو، د اولادونو د روزنې، د نفقې د پیداکولو، د هوسا او ارام ژوند برابرولو لپاره ښه غور وکړو، پلانونه جوړ کړو، ترڅو د ژوند په ټولو چارو کې بریالي اوسو.

موږ چې کله سهار له خوبه پاځېږو اول لمونځ کوو، بیا چای څښو او پس له هغې بیا هر څوک خپل کار پسې له کوره وځي، ځینې خلک له سهاره ترماښامه خپل وخت بې ځایه تېروي او ځینې نور یې بیا دقیقې- دقیقې لپاره ارزښتمن فعالیتونه تر سره کوي، چې په پایله کې بیا یو غوره شخصیت جوړ شي.

یو عالم وخت له پیسو سره تشبیه کړی، یعنی که موږ یو کار کوو، نو د

هغې په مقابل کې د پيسو طمعه لرو، چې د کار تر تماميدو وروسته يو څه اندازه ګټه وټه لاسته راوړو او د ژوند اړتياوې پرې پوره کړو، نو دا وخت هم همداسې يو شی دی، چې موږ يې له څانه سره لرو، نو بايد ګټه ترې واخلو، نه داسې، چې خوشې عبث را باندې تېر شي او بيا وروسته د تېر وخت ارمان کوو.

ځيني خلکو سره نه پيسې وي، نه پانګه او شتمني وي، نه د ښوونځي شهادت نامه او نه هم د کوم پوهنتون اسناد په لاس کې لري، خو بيا هم دوی ډېر ايمانداره، رښتيني او د شهرت خاوندان وي او زړونه يې لکه د فولادو په څېر کلک وي،هر هغه څوک چې خپله دنده په ايمانداری سره مخته وړي، نو هغه د اسلامي اصولو له مخې پوره مؤمن بلل کېږي، د خپلو موخو درناوی کوي او هغه څه يې، چې په نصيب کې وي پرې شکر ادا کوي.

په همدې طريقه خپل د نارينتوب د اصولو پالنه کوي، ډېر وګړي داسې وي، چې په ژوند کې خپل چارچلن ته درناوی نلري، خو داسې هم نه ده، بې له کردارو انسان داسې وي، لکه په يو هېواد کې، چې واکمن نه وي.

د دولت او کردار تر منځ هېڅ کومه اړيکه نه شته، مال دولت داسې يو شی دی، چې په غلط استعمال انسان په بد نوم نوموي، د کم ظرفه او بد کرداره خلکو لاس ته، چې کله دولت راشي، بيا غرور او تکبر پيل کړي، چې په پايله کې خپله هم زيانمن وي او بل ته هم زيان رسوي.

د پورته خبرو برعکس په غربت کې د نېک انسان د اعمالو جوهر، لکه د ګل په څېر غوړېږي، په غربت، ديانت دار او کفايت شعاره انسان کې هغه

ټول ستر خواص او ځانګړنې وي کوم چې په ډېر فخر او ویاړ سره، انسان د هغه پر بنسټ د سر لوړی مقام ته رسېږي، کردار پـه خپـل ذات کـې یـو ودانی ده او له دې به بل داسې کوم ستر امـارت وي، چـې پـه سـبب یـې انسان په ټولنه کې د عزت او محبوبیت څښـتن شي، د دې امـارت لپـاره، چې څوک خپله شتمني په لګښت رسوي، هغه په مادي لحاظ دولتمنـد نـه وي، خو په معنوي اړخ کې ډېر بډای او شتمن وي.

د انسان ایمانداري او نېک خوی په خپـله د دې خبرې واسـطه او وسـیله ده، چې هغه د کامیابی لور ته بوزي، خو په دې شرط، چې د خپلو مشرانو په نقش او قدم یون وکړي، چې په همـدې دلیـل د انسـان همـت او اراده لوړېږي او په ټولنه کې د هر چا پر وړاندې ځانګړی محبوبیت پیداکوي.

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# هره شېبه د ژوند لپاره اړینه وبولئ

دا چې وایو وخت زموږ لپاره داسې ېېلګه لري، لکه دولت، نو دا زموږ ډېره لویه تېروتنه ده، دا ځکه چې د هر توکي لپاره د خامو موادو حیثیت لري، د ژوند هره ورځ (۱۲) ساعته زموږ لپاره وي او دا هر ساعت خام مواد دي، د نن ورځ په تېرېدو د سبا ورځ لپاره تصمیم نیسو او بیا یې د مهالویش له مخې تر عملي کولو وړاندې دا هر تصمیم زموږ خام مواد دي.

**د وخت لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:**

- ✓ وخت هیڅوک له موږ څخه په زور نه شي اخېستی.
- ✓ وخت داسې کوم توکی نه دی، چې غلا شي.
- ✓ د وخت په ارزښت، چې څوک وپوهېږي، بیا یې بې ځایه نه تېروي.
- ✓ وخت په مثال د دولت دی، چې په بې ځایه لګښت یې تاسې د غربت لوړ پوړ ته رسېږئ.

شپه او ورځ ټول (۲۴) ساعته وي، چې په دې وخت کې موږ هلې ځلې کوو، ترڅو خپل ځانونه شتمن کړو، د خپلې روغتیا پاملرنه کو، چکرې وهو او... خو که یو څوک غریب وي، نو هغه شپه او ورځ هڅه کوي، چې د ژوند لپاره د سکون یوه ښه لار وپلټي، کار او روزګار پیدا کړي او پیسې لاسته راوړي، خو که یو څوک ډېره شتمني ولري او په ارزښت یې ونه پوهېږي، نو هغه په بې ځایه لارو مصرفوي او ځان بربادوي.
داسې به څوک وي، چې په ژوند کې یو ځل د دې خبرې ارمان ونکړي؟ (که ما سره داسې وخت پیدا شي، چې زه پکې خپل ارمان پوره کولای شم، نو بیا ته وګوره، چې زه څومره ځان شهرت ته رسوم.) په دنیا کې هېڅ داسې وګړي نه شته، چې هغه په دې ونه پوهېږي، چې وخت تېرېږي او بېر ته نه راګرځي، هر سړی دا احساس لري، خو ځیني بې احساسه دا فکر نلري او هېڅ د خپل وخت نه سالمه ګټه نه پور ته کوي.
په کار دا ده، چې په (۲۴) ساعتونو کې باید هر انسان دا فکر ولري، چې وخت بې ځایه تېر نه کړو او د هر ساعت لپاره یو ښه تصمیم ولرو، خو که څوک د هرې ورځې لپاره مهالوېش ونلري او وخت پرې بې ځایه تېرېږي، نو دا انسان ناکام دی او په ټول ژوند کې به بریالی نه شي، دا ډول بې مسوولیته او بې احساسه وګړو لپاره له ژوند نه مرګ غوره دی.

# خپل عزت په خپله وکړئ

ډېره پخوانۍ خبره ده او په رښتینولۍ کې یې هېڅ شک نشته، چې وایي:

**((که تاسې خپل عزت غواړئ، نو د نورو قدر وکړئ.))** خپل قدر کول په دې معنا، چې ځینې خلک تل هڅه کوي او دا عادت لري، چې په خپلو خبرو کې دروغ ووایي **او** په همدې طریقه د خلکو زړونه لاسته راوړي، خو دا کار ډېر دوام نه کوي او یوه ورځ خلک پوهېږي، چې فلانی ډېر درواغجن انسان دی، له دې وروسته خلک بیا تاسو ته درناوی نلري او په خبرو مو باور هم نه کوي، بلکه کرکه او نفرت درځخه کوي.

که پام مو کړی وي، کله چې یو مجلس ته څوک را داخل شي، که هغه غریب وي یا شتمن، نو هر څوک هغه ګوري، چې دا خو به کوم پېژندګلوی شخص نه وي، که نېک انسان وي، نو ټول یې ستاینه کوي او که چېرې پام مو کړی وي، کله چې دروغجن شخص محفل ته داخل شي، نو ټول خلک د تمسخر په توګه

وايي، دا ډوزمار بيا راغی، موخه يې دا وي، چې دوی په ټولنه کې خپل عزت له لاسه ور کړی، هر چا سره يې يوه دوکه کړي وي او د خلکو زړونه ترې تور وي، نو ځکه ورته څوک د درناوي په سترګه نه ګوري.

همدارنګه که يو مجلس ته کوم نېک خويه او ښه انسان را ننوځي، نو د دا ډول وګړو ځانګړی مقام وي، د هر چا په زړه کې ځای لري، ټول خلک يې احترام ته ودرېږي، خپل ځای ورته پرېږدي، بالښت ورته سموي، داسې خلکو سره هر څوک غواړي ځان نږدې کړي او خبرو ته يې په مينه غوږ ونيسي- او زړه خواله ور سره وکړي.

يوازې دا هم نه، چې يو څوک په خوله رښتينی اوسي او نور عملونه يې خراب او ناوړه وي، د ژوند خوږوالی په دې کې نه دی، چې ته څوک پېژني، نو د هماغه اشخاصو سره دې ښه چلند وکړې، بلکه اړينه خبره دا ده، چې انسان خپل هر نوی سهار له نېکو کارونو څخه پيل کړي، لکه:

١. يو وړوند له سړک څخه پورې باسي.

٢. له اړمنو وګړو سره مرسته وکړي، د دوی د خفګان او ستونزو لامل ترې وپوښتي او حل لارې ورته پيداکړي.

٣. د ناروغانو پوښتنه وکړي.

٤. يو يتيم ماشوم ته د زده کړو لپاره لارې چارې برابرې کړي.

٥. له کونډو سره د خوړو او نوروبرخو کې مرسته وکړي او...

خو د دې تولو ښو خصلتونو تر څنګ دا هم، په نظر کې ونیسي، چې د نورو وګړو د خوشالیو لپاره خپلې خوښې قرباني نکړي، خپل ځان او د کورنۍ غړي یې هم پرې حق لري، چې باید وخت ور کړي او هر ډول غوښتنو ته یې رسېدنه وکړي.
همدارنګه هغه دوستان او خپلوان، چې ترې په یو کار خفه شوي وي، د هغو د پخلاینې لپاره هڅه وکړي، په ځینو وختونو کې د اړتیا پر مهال ورته خدمت کې حاضر شي، نو په همدې توګه په ژوندوني او تر مرګ وروسته به ستاسو نوم په نېکه اوښه یادېږي.

# ستاسې ښه ملګرې څوک دی؟

ایا کله مو فکر کړی، چې څو ډوله ملګري لرئ؟ موږ بېلا بېل ډول ملګري لرو، لکه: (د کلي ملګری، ښوونځي ملګری، مدرسې ملګری، د پوهنتون ملګری، د ګډ کاروبار ملګری، دفتر ملګری او...) همدارنګه د دې ټولو ملګرو زړه ساتل اسانه کار ندی، خو باید پوه شو، چې اوس مهال زه کوم ډول ملګري لرم؟ او د کوم ډول سره يې زياته اړیکه پالم؟ زما دوستان له کوم ډول خلکو سره ناسته ولاړه لري؟ دا ټولې پوښتنې له ځانه مطرح کړو، دا ځکه چې هر څوک له خپلو ملګرو پېژندل کېږي، لکه هغه پښتو متل دی، وايي: (چې څنګه يې ژرنده، هغسې يې وړه.) د ملګرو په ټاکنه کې باید انسان ډېر دقیق اوسي، هغه خلک له ځانه سره مه ملګري کوئ، چې په اوسنی ټولنه کې ورته خلک په ښه سترګه نه ګوري.

راځم دې خبرې ته، چې کوم خلک له موږ سره نږدې اړیکې لري، له هغه سره باید څه ډول چارچلند وکړو، ترڅو په منځ کې مو داسې تکر رانشي-، چې زموږ ملګرتیا له منځه یوسي او اړیکې مو خړې شي.

که تاسو اوس مهال زده کړیالان یاست او یا هم په یوه اداره کې کار

کوئ، نو خامخا به داسې دوستان لرئ، چې په فرصت وخت کې به د تفریح په موخه چکر ته ځئ، د غرمې پر مهال به په یو هوټل کې ډوډۍ خورئ، همدارنګه شاید یو ډول جامې به کوئ، خو د دې هر څه تر څنګ باید لومړۍ خپل اقتصاد په پام کې ونیسو، که د نورو خلکو سره سیالي وکړو او خپلې پیسې بې ځایه مصرف کړو، نو هم به مو خدای (ج) ناراضه کړی وي او هم به مو له خپلو موخو څخه ځان شاته پرې ایښی وي.

باید دا خبرې په پام کې ونیسو، دومره ځان خراب نکړو، چې په راتلونکي ژوند کې د نورو خلکو د اوږو بار شو، تر دې حده، چې ملګري تاته جامې هم واخلي، کرایه دې هم ورکړي، د ډوډۍ خوړو لګښت دې هم ورکړي، دا په دې معنا نده، چې ته په ژوند کې یو داسې ملګری ولرې، چې هغه اقتصادي ستونزې ونلري او ټولې اړتیاوې دې هماغه در پوره کړي، دا یوه ناسمه پرېکړه او غلط فکر دی.

که غواړئ چې راتلونکې کې مو تر منځ خفګان رانشي، خدای مکړه یو بل ته د پېغور ورکولو او د جګړې سبب ونه ګرځئ او تل لپاره مو دوستي له منځه لاړه نشي، نو ښه خبره دا ده، چې د ملګرتیا اصول او نزاکتونه باید مراعت شي، ټول لګښتونه په ګډه پرې شي، یو نفر ته باید زیان ونه رسېږي، د هېڅ ملګري په ذهن کې دا خبره ونه ګرځي، چې دوی زما لاسته ناست دي او ټول عمر پرې زه مصرف کوم، په دې خبرو بیا دوستي له منځه ځي او تر ډېره دوام نه کوي.

لنډه دا چې دلته د انساني ژوند غوښتنه دا ده، چې ټول انسانان یو ډول ژوند نلري، کیدای شي، چې ځینې دوستان مو د اقتصاد له اړخه ډېر

پیاوړي وي، ښه ژوند لري، روزګار او معاش یې ښه وي، پلار او ورونه او د کورنۍ نور غړي یې په دنده بوخت وي، خو بل اړخ ته داسې ملګري هم ولرئ، چې د هغوی اقتصاد کمزوری وي، د خوړو او کور کرایې لپاره پیسې هم نلري، معاش هم ونلري، په داسې حال کې باید هیڅکله دا غیرت ونکړئ، چې په ملګرو بې ځایه پیسې خرچ کړئ او په کور کې مو خپل کمزوری پلار له یاده ویستی وي، هغه چې په زوړ ځان او زړو هډوکو شپه او ورځ په ځان یوه کړې او ستاسو د ښې راتلونکې او هر ډول خواهشاتو پوره کولو لپاره هلې ځلې کوي او نه مو هغه ورور له یاده وباسئ، چې په سخته ګرمۍ کې په (۳۰۰_ ۴۰۰) افغانیومزدوري کوي او تاسو ته یې د تعلیم کولو لارې چارې برابرې کړې او تل دا هیله لري، چې ته به یو مقام ته ورسېږې او بیا له هغوی سره مرسته وکړې، نو لنډه دا چې په ژوند کې باید داسې ملګري وټاکو، چې د ښه شخصیت او د ښه فکر خاوندان وي، ترڅو له هغو یې زده کړو او خپله ګانده پرې روښانه کړو.

# ځانګړی شخصیت

په میلونونو انسانانو کې به داسې څوک نه وي،چې د هغوی عادتونه، شکلونه، سیرت، صورت، ذوقونه او دې ته ورته نور خویونه دې سره ورته والی ولري، نو ځکه ارواه پوهان وايي، چې هر څوک خپل یو ځانګړی شخصیت لري.
هر چا ته معلومه ده، چې د ټولو انسانانو، د لاس ګوتې، خویونه، اخلاق، خبرې، لهجې، اوازونه او نورې نښې نښانې سره خامخا لږ ډېر توپیرونه لري، که موږ د انسان دننه جوړښت ته پام واچوو، نو د انسان د بدن په داخل کې به ډېر داسې څه وګورو، چې هغه به زموږ لپاره حیرانونکي وي، د بېلګې په ډول: که د انسان معده په پام کې ونیسو، نو د هر چا معده د اندازې او جوړښت له مخې بېلا بېل شکلونه لري، ځینې ډاکټران په دې اند دي، لکه څرنګه چې د انسانانو پزې، خولې، غوږونه او غاښونه توپیر لري، داسې یې معدې هم یو له بل نه په تفاوت کې دي.
همدا لامل دی، چې وګړي د خوړو په هضمولو کې ستونزې لري، مثلاً د چا معده ژر د هضمولو وړتیا لري او ځینې نور یې بیا د دوا او نوشابه جاتو

په زور خپل خواړه هضموي.

دې هر څه ته په کتو سره ويلای شو، چې يو انسان د بل انسان سره کاملاً توپير لري، مثلاً که د يوې کورنۍ غړي په پام کې ونيسو، چې د ورځې ټول کار کوي او هر شخص په خپل معلومې دندې پسې تللي وي، خو کله چې ټول ماښام کورته راشي، نو څوک په فيسبوک، څوک په کمپيوټر، څوک په مطالعه او څوک په تلوېزون کتو بانډې بوخت وي، نو له دې موږ ته جوتېږي، چې د هر چا ذوق ځانګړی وي، په يو بل مثال کې به د ښوونځې زده کوونکي را واخلو، موږ درې ډوله زده کوونکي لرو: يو يې هغه دي، چې کله ښوونکی درس ور کوي، نو دوی يې سملاسي له ځان سره يادښت اخلي او زده کوي، بل هغه ډول زده کوونکي دي، چې له نورو زده کوونکو څخه زده کوي او درېيم بيا په کور کې په تکراري ډول زده کړهکوي، همدا شاګردان په بېلابېلو هڅو کې ځان بريالیتوب ته نږدې کوي، په دې ټولو بېلګو کې موږ دې پايلو ته رسېږو، چې انسانان له هر اړخه په خپلو کې سره ښکاره توپېر لري او هر يو يې ځانته ځانګړی شخصيت اوذوق لري.

# سترګې مو خلاصې کړئ

د انسان د بې وسۍ او کمزورۍ تاریخ ډېر پخوانی دی، انسان تر ډېره د ونو پاڼې، مېوو او نورو خوړو څخه استفاده کړې، د غرونو په غارونو کې یې ژوند کاوه، خو د ده د ژوند د ړنا کولو لپاره یوې شمعې وجود درلود، خو انسان ترې نا خبره و، همدارنګه انسانانو د خوړلو لپاره بېلا بېل حیوانات ښکار کول، خو فکر مو وي، چې دا ښکار به یې د کوم توفانچې او توپک په وسیله نه کاوه، بلکه د ډبرو او لرګیو په واسطه به یې کاوه او په همدې طریقه به یې خپله نفقه برابروله.

د وخت په تېرېدو سره یې فکر وکړ، چې داسې څه باید جوړ کړي، چې ښکار کول ورته اسانه شي، هماغه و، چې غشي- او لیندۍ یې جوړ کړل، چې بد بختانه نن هغه غشي- او لیندۍ په بېلا بېلو وسلواو وسیلو بدل شوي اوس پرې د انسان ښکار په ډېرې اسانۍ تر سره کېږي، لکه څرنګه چې مو په مخکې بحث کې وویل، چې د انسانانو ذوقونه او ذهنونه فرق کوي، د چا پلرونو غشي- جوړ کړل،

اوس د هغوی اولادونو ټوپکونه جوړ کړل، البته دا د وخت غوښتنه او فکري ټکرونو ښکارندوی ده.
خو د اوسنی زماني خلک داسې فکر کوي، دا نن چې په نړۍ کې کوم پرمختګونه را منځته شوي، دا ټول په یو دم سره تر سره شوي، خو داسې نده، دا هر څه د وخت د اړتیا پر بنسټ او د ډېرو سوچونو او فکرونو په پایله کې را پیدا شوي، نن چې دا دومره په ټنونو اوسپنه (طیاره- الوتکه) په هوا کې ګورئ، دا هم د انسان د ذهني اختراع پایله ده، خو دلته اوس پوښتنه دا ده، چې دا هر څه انسانانو له کوم ځای څخه زده کړل؟ ځواب دا دی، چې دا هر څه (د انسانانو په ډېرو کوښښونو، سوچونو، زحمتونو، د خپلې ښې راتلونکې په اړه د ډېر فکر کولو په پایله کې لاسته راغلي.)
آن داسې خلک، چې غوښتل یې د راتلونکو وګړو لپاره یو سهولت او اسانتیا را منځته کړي، خپل ژوند یې پکې له لاسه ور کړی، چې نن هم د هغوی نوم د تاریخ په پاڼو کې ځلانده څېرې بلل کېږي.
دا چې دې خلکو په تش لاس او د امکاناتو په نه شتون کې دومره څه کړي او نن ترې موږ استفاده کوو، سره له دې، چې موږ اوس د هغوی په پرتله څو برابره زیات هر ډول امکانات لرو او بیا هم نورو ته ګټه نه رسوو، نو دا زموږ کمزوري او ناکامي ده، دا اړینه نده، چې موږ دې توپ او ټانک جوړ کړو، موږ ته تر هر څه لومړی اړینه دا ده، چې خپل ذهنونه جوړ کړو، پوهه تر لاسه کړو، مطالعه وکړو، خپل وخت بې ځایه تېر نه کړو، د خپلې کورنۍ او ماشومانو

د ښې راتلونکې په اړه فکر وکړو، ځینې خلکو خپله ښه ډېر تعلیم کړی وي، په یو ښه پرمختللي اداره کې کار هم کوي، خو د خپلو بچو د راتلونکې غم ور سره نه وي، هغوی دا فکر کوي، چې موږ به ټول عمر ځوانان یوو، بس زه به یې ګټم او اولادونه به مې یې خوري، پربېږده هماغسې چې زړونه یې غواړي له ژوندده خوند واخلي.

خو زما په اند دا ډول مفکورې ناسمې دي، نه شتمني تل لپاره وي، نه ځواني او نه عمر، نو راځئ! خپلو بچو د تعلیم، پرمختګ او ابتکاراتو لپاره زمینه برابره کړو، ترڅو هغوی هم ډېرې زده کړې وکړي او د دې هېواد یو ښه راتلونکی شي او همدارنګه د خپل دردېدلي او کړېدلي ولس د خدمت جوګه شي.

# په ځان باوري اوسئ

همېشه باید انسان مثبت فکر ولري، ترڅو راتلونکې مو روښانه شي، ځینې خلک داسې فکر کوي، چې زه ډېر شتمن یم، چې څه وغواړم، هغه لاسته راوړلی او کولی شم، خو نه داسې نده، هر څه په پیسو لاسته نه راوړل کېږي، ځینې شیان په ډېر زیاراو زحمت تر لاسه کېږي، لکه موږ په دې اړه مشهوره اصطلاح لرو، چې (بې زحمته راحت نشته.) د دې خبرې د لا وضاحت لپاره تاسو سره یوه کیسه شریکوم.

سبحان او خالد دواړه ډېر خواږه ملګري وو، سبحان له یوې ډېرې غریبې کورنۍ څخه و، چې پلار یې شپه او ورځ په ځان یوه کړې وه او کار به یې کولو، خو دخالد بیا ډېره شتمنه کورنۍ وه، چې تل به یې نوې او وتو کړې جامې اغوستلې او ښوونځي ته به راتلو، ډېر کبرجن، مغروره او بې پروا انسان و، د سبحان په زړو جامو او غریبې پورې به یې تل خندل، خو سبحان به خالد ته ویل خانده- خانده وبه ګورې، چې یوه ورځ به زه هم ډېر شتمن انسان شم، ډېر شهرت به پیدا کړم او ښکلې دنده به ولرم، خو خالد بیا هم خندل، دا خبرې به یې بابېزې ګڼلې.

سبحان چې به کله تنها شو، نو ځان سره به یې په دې خبره زړه خوړو، چې له ښوونځي فارغ شي، نو څه به کوي، له یوې خوا کورنی ستونزې او بل خوا په هېواد کې د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو نشتون، د دې تر څنګ د خپل ملګري پېغورونه، دا ټول هغه څه وو، چې شپه او ورځ به سبحان پرې فکر کولو مبتلا و، خالد چې په ژوند کې ډېر سهولتونه درلودل، نو وخت نا وخت به د تفریح لپاره د سبحان خوا ته راتلو، خپلو درسونو ته به یې هېڅ فکر نه و، خو سبحان به ورته د نصیحت په پار ویل، چې خپل درس ته متوجه اوسه او وخت بې ځایه مه تېروه، خو دې نصیحتونو پرې هېڅ اغېز نه درلود.

خالد به بیا هم د تېر په څېر په ډېر کبرجنه لهجه ویل، چې دولت لرې، نو ورک شه غمونه، وخت په تېرېدوو، دواړه له ښوونځي څخه فارغ شول، له فراغت وروسته سم له واره، سبحان په یو فابریکه کې کار پیل کړ، د یو مزدور په توګه مقرر شو، وختونه تېرېدل، یوه ورځ د فابریکې منشي نه و راغلی، د فابریکې مسوول (خاوند) ډېر زیات غوسه و، سبحان ډېر باجرأته هلک و، په بیړه راغی او له خپل مشر نه یې پوښتنه وکړه، نېکه! نن ولې په غوسه یې؟ هغه ویل منشي ندی راغلی او ما ته حساب کتاب ندی معلوم، نو هر څه ګډوډ دي، باید دا حسابونه ټول سره جمعه شي، سبحان ور زیاته کړه، که ستا اجازه وي، نو نن به دا حسابونه درته زه وکړم، د فابرېکې څښتن داسې انګېرله، چې ګوندې سبحان بې سواده دی، ځکه چې دی به د کار پر مهال تل خیرن ګرځېدو، نو مشر یې وخندل او په مغرور انداز یې ورته وویل: ته او حساب... سبحان د ډېرې لوی حوصلې

ځښتن و، دخپل مشر په خندا يې هېڅ خوابده نکړه، ځکه چې دی له پخوا دا ډول خبرو سره عادت و، په غوږو او خبرنو گوتو يې قلم واخېست، لکه د يو ماشين په څېر يې په لږه شيبه کې ټول حساب بشپړ کړ، مشر يې ډېر ورته په حيرانتيا ور کتل اوبيا يې د آفرين تر څنگ ترې وپوښتل، ته دومره تکړه يې او بيا په دې فابريکه کې کار کوي؟ سبحان ورته په ډېرې عاجزۍ خپله د ژوند کېسه وکړه، د خپلو ستونزو په تړاو يې خبر کړ، مشر-يې د ده په وړتيا زښت ډېر خوشاله شو او هغه يې له ځانه سره يوې بلې فابرېکې ته يوړ او هلته يې د منشي په صفت مقرر او معاش يې هم ورته لوړ کړ.

سبحان ډېر زيارکښ انسان و،ورو- ورو خپلو هيلو ته نږدې کېدو، اوس يې نو غوښتل، چې خپلو زده کړو ته ارتقاء ور کړي، نو د ورځې لخوا به يې خپل منشي توب کاوه او د شپې لخوا يې په يو خصوصي پوهنتون کې د اقتصاد پوهنځي کې زده کړه پيل کړه.

خالد چې هېڅ د خپل راتلونکي ژوند په کېسه کې نه و، تل به يې خپل وخت بې ځايه تېرولو او لنډ مهاله خوشاليو کې خوښ و، په همدې اساس يې زده کړې هم نيمگړې پاتې شوې، خو سبحان بيا خپل وخت ته ډېر ارزښت ور کولو، دندې تر څنگ يې څو کاله وروسته د لېسانس تر کچې خپلې زده کړې بشپړې کړې او د همدې مودې جريان کې يې د ماسترۍ زده کړې هم په خپل مسلکي اړخ کې سر ته ورسولې، هغه د مشرانو خبره، لياقت هېڅ کله پټ نه پاتې کېږي، بلاخره کار او زيار يې رنگ راوړ اوداسې وخت هم راغی، چې د يوې ادارې د سرپرست رئيس په توگه

وټاکل شو، د خپلې وړتیا او زړورتیا له امله د وخت په تېرېدو بیا په رسمي ډول رئیس هم مقرر شو، په همدې اساس خپلو ارمانونو ته ورسېدو او ژوند یې له راحت او خوښۍ ډک شو.

له ورځو نه یوه ورځ سبحان شعبه کې ناست دی، چې د خونې خدمتګار دروازه خلاصه کړه او غږ یې کړ، رئیس صاحب! دلته یو څوک راغلی غواړي، چې تاسو سره وګوري، نوموړي اجازه ور کړه، چې را ننوت، خالد وپېژند خو ځان یې پرې ناګار کړ، تر سلام- کلام وروسته، رئیس ته مخامخ په چوکۍ کې کېناست، خپل اسنادونه یې را واخېستل او پر مېز یې کېښودل، نوموړي زیاته کړه، جناب رئیس صاحب زما نوم خالد دی او تر دولسم ټولګي پورې مې زده کړې کړي اوس په ډېربد حالت کې قرار لرم، خبر شوم، چې تاسې یوساتونکي ته اړتیا لرئ، نو که دا دنده ماته را کړئ، ستاسو به ډېره زیاته مهرباني وي، د دې خبرو په اورېدو سبحان ډېر زیات خفه شو او له سترګو څخه یې اوښکې روانې شوې، خالد چې ورته پام شو، نو په حیرانتیا یې ترې وپوښتل، رئیس صاحب تاسو ولې ژاړئ؟ سبحان ورته په ربړدېدلي غږ وویل، تا زه وپېژندم، چې څوک یم؟ خالد وویل، هو! دومره پوهېږم تاسو د دې ادارې مشر- (رئیس) یاست، نوموړی له خپلې چوکۍ را پاڅېدو او خالد یې سینې سره ټینګ ونیولو او ورته یې وویل زه سبحان یم، ستا هغه ټولګیوال، چې تل به دې زما پیوند جامو پورې خندل او پر ما به دې رشخند وهلو او ویل بـه دې، چې تا تـه ګوره او پر مختګ ته ګوره، خو زه نن د یوې ادارې رئیس یم، د ماستری تر کچې زده کړې لرم، ما خپله مبارزه جاري وساتله، هر ډول ستونزې مې

پر ځان وګالله او هغه مې رښتینې ثابته کړه، چې وايي: (د هرې سختۍ پسې راحت وي.) خالد خپل تېر وختونه او د سبحان نه منلي نصیحتونه را یاد کړل، له خجالته یې سر ښکته کړ او په ژړا شو.

نو معلومه شوه، چې شخصیت جوړېدنه په ښه لباس نده، بلکه په ډېره زده کړه او ښه خوی کې ده، نو زده کړې وکړئ او په خپل ځان باور ولرئ، چې تاسو هم د بریالیتوب لوړو مقامونو ته رسېدلی شئ.

# تاسو چې په کوم ځای کې قرار لرئ، هماغلته اوسئ!

د اندېښنو کولو یو ستر لامل دا هم دی، چې موږ په کوم ځای کې یوو، نو هلته د اوسېدوسره ځان نه شو عادت کولای، مثلاً: کله چې په کور کې یوو، نو دفتر، پوهنتون، ښوونځي او نورو تفریح ځایونو په اړه فکر کوو، خو چې کله بیا په دفتر، پوهنتون، ښوونځي او چکرته تللې اوسو، نو د کور په اړه فکر کوو.

ټوله ورځ د تېر (ماضي) وخت یا هم د راتلونکي (مستقبل) په اړه اندېښنه لرو او دا چې دم ګړی (حال زمانه) زموږ په اختیار کې وي، نو د دې لپاره هېڅ تصمیم نه لرو، نه ورته فکر کوواو ټوله ورځ را باندې په فکرونو او سوچو تېږي.

د حال زماني په اړه فکر نکول دوه ستر زیانونه لري: لومړی دا چې د انسان حالت به تل خراب وي او دوهم دا، چې دوی به د نا شکری په عادت باندی مبتلا وي، اوس حل لار دا ده، چې د دغه دوه بد حالتونو

څخه د راوتلو په پار باید لاس په کار او د بریالیتوب لپاره دې هر راز کوښښونه وکړي او په ځان کې دې د شکر ادا کولو عادت پیدا کړي.
همدارنګه د ورځې په جریان کې دې له هرې ثانیې، دقیقې، ساعت او شپې څخه مثبته استفاده وکړي، هغه د مشرانو خبره (نن ورځ د سبا لپاره تجربه ده.) د هرې ورځې له واقعاتو څخه دې زده کړه وکړي، که ښه حالت ور باندې تېر شوی وي، نو په هغه دې د الله تعالی شکر ادا کړي او که بدې صحنې پرې تېر شوې وي، نو د هغې د بیا ځل د نه تکرار لپاره دې غور وکړي، له همدې تجربو دې دخپلې ښې راتلونکي په موخه د نوښتونو او ابتکاراتو لپاره مبارزه وکړي.
کله چې په انسان کې د ځان پېژندنې لوړ فکر پیدا شي او شکر ویونکی وي، نو دی په هر حالت کې بریالی دی، یو ارواه پوه وایي: (ښه فکر ستاسو د ښې راتلونکي استازولي کوي.)
خپل باارزښته وخت باید د ازماېښتونو ښکار نکړو او نه هم د پایلې په تمه لاس تر زنې کینو، یو هلک را ته کیسه کوله، ویل یې زما د پوهنتون ازموینه وه، نو ما لا امتحان نه و ور کړی، په دې اړه اندېښمن وم، چې زه به بریالی شم او که نه؟ خو د همدې اندېښنو له کبله مې درس سم ونشو لوستلای، نو له آزموینې وروسته مې دا فکر کولو، چې زه به هرومرو چانس خورم، خو په داسې حال کې، چې زما اندېښنه بې ځایه وه، ځکه چې زه په هغه مضمون کی بریالی شوی وم.
موخه دا ده، چې تاسو ناکام اوسئ که بریالي، خو مجبور چې په دواړه حالاتو کې پر ته له فکر کولو هېڅ ونکړئ، نو د پایلې لپاره په تمه پاتې

کېږئ، ډېر وخت په بې ځایه فکرونو مه مصرفوئ، لاس په کار اوسئ او ډېر وخت د ځان لپاره تر ټولو قیمتي ډالۍ وګڼئ او په سمه توګه یې وکاروئ.

**په همدې اساس دلته درته د کمزورو خلکو څو بد عادتونه او خویونه بیانوم:**

۱. کله چې په خرابو لارو کې بند پاتې شي، نو د دې پر ځای، چې خلاصه یا روغه لار ځانته پیدا کړي، په کنځلو سر کېږي.

۲. د یوې ستونزې د حل پر ځای، زړه په ژړاګانو خوري.

۳. د بل چا خبرو ته غوږ نه ږدي، له کبره آسمان سره غړېږي او له ډېرې مستۍ نه وایي، زه چې کوم کار کوم، بیا د ډېر زړه خبره هم نه منم پاتې لا نور خلک.

۴. ژر ماتې مني او تل ډېر ځان ناکام بولي.

۵. د نورو په پرمختګ سوزي، ځکه چې دې ته دا کار اسانه وي، خو په ډېره ځانته په زحمت سره یو څه ګټل ورته ګران وي.

۶. ډېره غوسه (قهر) نه شي کنټرولولی.

۷. هیڅکله یې ځان په ډېر اختیار کې نه وي.

۸. تل غواړي، چې له نورو خلکو له خولو ښه ډېر صفت واوري.

۹. د ډېرې راتلونکې په اړه ور سره هېڅ فکر نه وي.

۱۰. د صبر، حوصلې او زغم ځواک نلري.

پورتني ناوړه عادتونه، چې په کوم انسان کې وي، نو دا شخص به تل ناکام وي او هیڅکله به په ډېرو موخو لاس بری نشي.

# اړیکې په بد اخلاقۍ له منځه مه وړئ

ځینې اړیکې په ډېرو ستونزو جوړېږي، هلې ځلې غواړي، سوال او زارۍ غواړي، آن د جوړولو لپاره ډېر کلونه په بر کې نیسي، خو بیا له منځه وړل یې د څو ثانیو کار دی، ډېر ژر او په اسانه ماتېږي او بیا چې دا اړیکې له منځه ځي، نو رغېدل یې د مخکې په څېر نه وي، ځکه خو وایي، چې د دوه انسانانو تر منځ د صمیمیت اړیکې د ښېښې بېلګه لري، چې ماتې شي، نو بیا جوړېدل یې ناممکن دي او ماته شوې ښېښه تر رغېدو وروسته خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

زموږ او ستاسو د ورځنۍ ژوند اړیکې په څو برخو وېشل شوي، د بېلګې په ډول: (د ښځې او خاوند اړیکه، د مور و پلار اړیکه له اولادونو سره، د اولادونو له مور و پلار سره، د خور او ورور اړیکه، د زده کوونکي او ښوونکي اړیکه، د هلک او د جنۍ اړیکه، هلک د هلک سره اړیکه، جنۍ د جنۍ سره او....) د دې ټولو اړیکو پالل او خیال ساتل ډېر اړین کار دی، ولې یو څه ستونزمن هم دی؛ ځکه چې د دا ډول اړیکو پالنه پیاوړي هوډ، عاطفي احساس او چلند ته اړتیا لري، چې له بده مرغه داسې

احساس د ډېرو کمو وګړو سره وي.

تر کومه وخته چې ستاسو تر منځ اړیکې ژوندۍ وي، نو باید په پوره ایمانداری سره مخته یوړل شي او بیا که د یوې ستونزې له کبله دا اړیکه خرابېږي، نو باید ډېر په درنښت او خوش اخلاقۍ سره تمامه شي، دا اړیکه د ښځې او خاوند ترمنځ وي،عاشق او معشوقې ترمنځ وي یا هم که د دوه ملګرو تر منځ، په کار دا ده، چې په بد رد، کنځا، تحقیر او بد سلوکۍ سره تمامه نشي، د انساني ژوند او ټولنیزو نزاکتونو غوښتنه دا ده، چې لومړۍ دې دوی دواړه خپلو کې سره وغږېږي او ستونزه دې حل کړي، که ونشوه بیا دې د سوله امیزه شخص په مټ د ستونزې حل په لارو چارو غور وکړي، که بیا هم نه کېږي، نو وروستۍ لار همدا ده، چې د تېر ژوند په تړاو دې د تېروتنو ښښنه وغواړي، ډېر په نرمښت او په درنو الفاظو دې له یو بل مخه ښه واخلي.

دغه لارښونه تر ډېره د ښځې او خاوند اړیکې ته راجع ده، ځکه چې ځینې کورنۍ شته، چې په ډېره وړه خبره لوی جنګ جوړ کړي او پایله یې دا شي، چې ښځه بیا د پلار په کور، کلونه-کلونه ناسته وي او اخر دې پایلې ته رسېږي، چې دا خوړه او عاطفي اړیکه د طلاق په بد نوم پرې شي، نو که ستونزه نه حل کېدونکي وي او حالات لکه د مخکې په څېر نرمښت نه پیدا کوي، بیا د خدای په امانۍ مراسم یې باید په صمیمیت تمام شي، نه په جنګ، سپکاوي او دوښمنۍ.

# له خوښې ډکې اړیکې څه ډول جوړې کړو؟

د ښو اړیکو پالل زموږ ژوند له خوښيو ډکولای شي، که کله هم له یو چاسره ستاسو اړیکې خرابې شي، نو باید په دغه لارښونو عمل وکړئ:

**۱. کوښښ وکړئ، چې یو بل په سمه توګه وپېژنئ**
ددې خبرې مفهوم دا دی، په دې باید ځان پوه کړئ، چې ستاسو د ژوند د ملګري څه خوښ او څه یې نا خوښ دي، کله چې د هغې په خوښه پوه شوئ، نو د ژوند په هره برخه کې یې ترسره کړئ او کوم څه یې، چې له پامه بد اېسبږي، له هغې څخه ځان وژغورئ.

**۲. خبرې مو په واضح ډول ترسره کړئ**
هیڅکله دا کوښښ مه کوئ، چې د خبرو پر مهال تاسو له اورېدونکي دا تمه ولرئ، چې تاسو څه غواړئ، نو هغه به درک کړي وي، د اړتیا پرمهال

خپله خبره په څو ځل تکرار کړئ، ښه یې واضح کړئ، په روانه او ساده ژبه وغږېږئ، ترڅو مخاطب یې په اړه هیڅ گونگوالي حس نکړي.

کېدای شي د خپلو خبرو په جریان کې تاسو په زړه کې داسې یو څه ولرئ، چې هغه د اورېدونکي په ذهن ناوړه اغېز پرېښودلی شي، نو دا ډول خبرې مو په زړه کې پرېږدئ، په اړیکو پاللو کې د خبرو کولو مهارت ډېر اړین دی، که مهارت یې ونلرئ، نو کیداشي، چې گڼې ستونزې وزېږوئ، معنا دا چې ستاسو خبرې په یو شخص اور هم بلولی شي او د یو چا ژوند کې مثبت بدلون هم راوستلای شي.

مثلاً: د ژمي په موسم کې که یو څوک له خونې وځي او له هغې څخه دروازه خلاصه پاتې کېږي، نوتاسو ورته په غوسه کې وایې: ((وه بې عقله، جاهله دا دروازه دې ولې خلاصه پرېښوده، ښه پوهېږې، چې هوا یخه ده او له دې سره خونه یخېږي.))

خو برعکس همدا خبره په نرمه او خوږه لهجه هم کیدلای شي، لکه هغه څوک چې له خونې وځي، باید تاسو ورته له وړاندې یاد ونه وکړئ، چې وتلې نو دروازه درسره بنده کړه؛ ځکه چې هوا یخه ده او زما ډېر یخ کېږي، هسې نه چې ناروغان شو، نو دلته د خبرو کولو مهارت ته ډېره اړتیا تر سترگو کېږي.

### ۳. په زور خپلو خبرو اورېدلو ته څوک مه اړباسئ

که کوم څوک مو خبرو اورېدلو ته چمتو نه و، نو هیڅکله له زور او جبر څخه کار مه اخلئ هغوی مه مجبورئ، چې ستاسو خبرې په نه زړه

واوري.

**۴. خپله باید یو ښه اورېدونکي اوسئ**

د نورو خبرې په دقت واورئ، په ځان کې دا وړتیا له ځانه وښایې، چې په کوم ځای کې باید وغږېږئ او کوم ځای کې غلي پاتې شئ، د اورېدلو لپاره د زغم او حوصلې مهارت درلودل ډېر اړین دی. کله چې څوک غږېږي، نو تاسو باید دهغې د خبرو په منځ کې راونه غورځېږئ، ځینې خلک چې نیمه خبره واوري، نو غبر کړي، چې بس زه په ټوله کیسه پوه شوم، دا یو ډېر بد عادت دی او که چېرې یوه خبره تاسو ته واضح نه وه، نو بیا هم د خبرو منځ کې وضاحت مه غواړئ، له ځانه سره یې یادښت واخلئ او کوښښ وکړئ، چې نوموړی شخص خپلو خبرو بشپړولو ته پرېږدئ او که بیا اړتیا وه، نو تاسو نظر ورکړئ او په وروستی برخه کې پوښتنې مطرح کړئ.

**۵. کوښښ مه کوئ، چې ټولې خبرې له نورو سره شریکې کړئ**

ځینې رازونه داسې وي، چې هغه باید پټ پاتې شي، لکه د خپلې کورنۍ په تړاو هغه خبرې، چې ستاسو د پېغور سبب کېدلای شي یا د ملګرو ځینې رازونه، چې رسوا کولو سره یې تاسو دګنو ستونزو او بې باورۍ سره مخ کېږئ.

**۶. له یو بل پرته د وخت تېرولو عادت په ځان کې پیدا کړئ**

د اړیکو پاللو څخه موخه دا نده، چې تاسو له هماغه یو شخص سره پاتې شئ، نه هغه بل چاسره لیدلی شې او نه دې ته بل چاسره اوسېدلی شې، یو بل ته مناسب وخت باید ورکړل شي، په خپل ژوند کې ورته دومره ځای ورکړئ، چې بیا نشتون یې په تاسو کې د کومې رواني ناروغۍ نښې رامنځته نه کړي.

داسې باید ونشي، چې خپل ټول وخت، ژوند او اړیکه یوازې یو شخص لپاره ځانګړې کړو، له هر څه لومړی پر موږ خپل مور و پلار، خوېندې، ورونه، ښځه، اولادونه، خپلوان او بیا ملګري، دا ټول د اړیکو پاللو حق لري، چې باید پر خپل وخت ورته رسېدنه وشي.

معمولاً په نویو اړیکو کې دوه انسانان داسې غرق وي، چې نور وګړي یې له یاده وځي، زړه یې نه غواړي، چې یوه شېبه دې هم له یو بل څخه بېل شي، خو دلته بیا اړتیا او مهارت دا دی، چې انسان باید محدود نظره نه اوسي، پراخې اړیکې وپالي او د هر چا لپاره وخت ځانګړی کړي.

**۷. له نورو وګړو څخه د هغوی د پرېکړو حق مه اخلئ**

مثلاً ستاسو اړیکې باید دومره جدي نه وي، چې هغوی دې ته اړکړئ، چې ټول عمر او هره ګړۍ دې له تاسو سره په جبر کې اوسي، کوم وخت یې که له نورو خلکو سره د مخ کېدو لپاره زړه کېده، باید مخه یې ونه نیول شي، هغوی پرېږدئ، چې له تاسو پرته د نورو سره هم اړیکې وپالي.

**۸. د یواو بل ستاینه وکړئ**

په نورو وګړو کې د نیمګړتیاو او ناوړه خویونو لټولو پر ځای د هغوی ښه خصلتونه په ګوته کړئ، ستاینه یې وکړئ؛ ځکه چې ستاسو توصیف کول د هغوی د هڅونې او تاسو سره د مینې سبب کېږي، ځینې خلک، چې کوچنۍ نیکي وکړي، نو په خلکو به احسان اچوي، خو د نورو خلکو ښو او نیکیو ته هم درناوی ولرئ، منندوی یې اوسئ او تل یې ورته یادونه وکړئ، چې دا کړنه هم د ښې او تل پاتې اړیکې سبب کېږي.

**۹. د خپلو اړیکو څارندویان مه اوسئ**

هیڅکله د یو تفتیش په څېر خوی مکوه او مه د څارنوالانو په څېر پوښتنې کوئ، مثلاً په اړیکو کې دومره تعقیب مه کوئ، چې چېرته یې؟ چاسره یې؟ ولې تللی یې؟ کله راځې؟ تر څه وخته به هلته یې؟ او ....دا ډول څارنه او پوښتنې ستاسو اړیکې له منځه وړي یا هم بې خونده کېږي.

**۱۰. د یو او بل عزت وکړئ**

کوښښ وکړئ، چې د خبرو پر مهال د بداخلاقۍ څخه ځان وژغورئ، هیڅکله په ملګرو، د کورنۍ په غړو او خپلوانو رشخند مه وهئ، بې ثبوته پر یو او بل تور مه پورې کوئ، د فزیکي او لفظي شخړو څخه ډډه وکړئ، ستاسو له منځه که یوڅوک غوسه وي، نو دا بل دې چپ پاتې شي او کوښښ دې وکړي، چې د غوسې پر مهال یې له مخه لرې شئ، د غوسې د ختمېدو لپاره وخت ورکړئ او وروسته له هغې په کرار سره وغږېږئ او

ښېښنه وغواړئ.

## ۱۱. د خپلو اړیکو شننه او تحلیل وکړئ

لومړی باید تاسو دا کوښښ وکړئ، چې د موسمي اړیکو پر ځای دایمي اړیکې جوړې کړئ؛ ځکه چې موسمي اړیکو ته که هر څومره وخت ورکړل شي او که د پاللو لپاره يې هر څومره زحمتونه وګالل شي، خو د موسم په ختمېدو سره دا اړيکې هم له منځه ځي او که دا کار ترسره نکړئ، نو ټول وخت به مو بې ځایه تېر شي.

تاسوباید پوره مهارت او پوهه ولرئ، چې دا ډول اړیکې وپېژنئ او که دا ډول وګړي مو له ژونده لرې کېږي، نو په اړه يې خفګان او ژړا ونکړئ، په یادولو سره يې ځانته درد هم مه ورکوئ، ځکه چې د یو موسم په بدلېدو سره بل موسم راځي، نو همدې ته د ژوند ښایست ویل کېږي.

## ۱۲. د خپلو نیمګړتیاوو منونکي اوسئ

هر کله چې له تاسو یوه تېروتنه کېږي، نو که دخلکو په مخکې يې نشئ منلی، خو کله چې یوازې شوئ، باید خپله نیمګړتیا ومنئ، د تېروتنې منل یو ښه عادت دی، چې انسان د پرمختګ لامل کېږي او په دې سره انسان د یو اصلاح شوي او نېک شخص په توګه نومول کېږي، نیمګړتیاوې او تېروتنې یوازې له غلطو خلکو څخه نه کېږي، بلکه ډېر پوه او نېکان خلک هم شته، چې په ځینو وختونو کې له هغوی څخه یوه تېروتنه ترسره کېږي او یا هم ترسره شوي وي.

د یوې تېروتنې په صورت کې د هغې نه منل دا یوه بله د انسان ستره نیمگړتیا ده، هیڅکله خپله پړه پر نورو وگړو مه اچوئ، لکه تاسو یو ناوړه کار کوئ، چې د هغې په وجه خلک تاسوگرم بولي، نو تاسې له ډېرې وارخطايي څخه وايې، چې دا کار ما ندی کړی، دا فلاني کړی یا داسې درنه وویل شي، چې دا فلاني ماته ویلي و، نو دا واورئ، چې په دنیا کې د داسې کم عقل خاوندان به فقد تاسو یاست، چې له همدا ډول وگړو څخه محبسونه ډک دي.

هیڅ داسې انسان نشته، چې هغه دې کامل او پوره وي، هر څوک یو نیمگړتیا لري، خو په دوی کې بیا ښه شخص هغه څوک دی، چې د یو کار د ترسراوي په وخت کې، له یوې علطی سره مخ شي، سم له واره ښښنه وغواړي او په راتلونکي کې د بیا ځل تکرار مخنیوی یې کوي، که دغه خصلت په هر شخص کې وي، هغه به ځانته یو نېک شهرت گټلی وي او تل به په خپلو چارو کې لاس بری وي.

خینې داسې وگړي هم شته، چې د تېروتنې په صورت کې، د دې پرځای، چې ښښنه وغواړي، نو وايي: ښه مې وکړل، د نر په زور مې وکړل یا داسې هم کېږي، چې هیڅ په خپله گناه نه قانع کېږي، دا ډول وگړي بیا هم الله ج ته مجرمین وي او هم بنده ته، نوپه لنده توگه ویلای شو، چې انسان نیمگړی دی او د هرې نیمگړتیا په وخت کې دې خپله گناه ومني او په خان دې کار وکړي، ترڅو دنیا او اخرت یې دواړه روښان شي.

# ملګرتیا مسوولیت دی!

په دې وړه جمله کې د انسانیت یو لوی درس پروت دی، ځینې وګړي په دې اند دي، چې ملګرتیا ګوندې فرصت دی، خو داسې نه ده، په مسوولیتونو کې دا یو داسې ستر مسوولیت دی، چې سرته رسول یې د هر سړي د وس کار نه دی، یولیکوال د مسوولیت کلمې په اړه داسې وایي: ((مسوولیت د قاموس یوه عادي کلمه ده، خو د عمل په ډګر کې ډېره درنه ده، چا ته چې یو مسوولیت سپارل کېږي، نو فکر کوي چې یو لوی بار یې پر اوږو پروت دی، دا ځکه چې د مسوولیت په کلمه کې پوښتنه نغښتې ده او مسوول چې څه کوي، نو ځواب به هم ورکوي، خو مسوولیتونه بیا یو تر بله فرق لري، ځینې عادي او ځینې یې کوچني وي، خو ځینې نور بیا خورا ستر او په نړېواله کچه مطرح وي، حقیقت دا دی، چې په ټولنیز ژوند کې هېڅ یو انسان بې مسوولیته نه دی، هر وګړي ته یو مسوولیت ورپرغاړه دی، د ټولنې ټول افراد په بېلابېل ډول مسوولیت لري، چې له دې ځخه یو هم د ملګرتیا پالل دي، خو زما په اند تر نورو دا ډېر لوی مسوولیت دی، ځکه چې زموږ پېشوا د بشریت ستر لارښورد حضرت

محمد صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا پر پالللو هم ټینګار کړی او په یو حدیث شریف کې فرمايي:

ژباړه: ((زما په امت کې ماته تر ټولو نږدې هغه شخص دی، چا چې د دغه درې دوله خلکو سره رښتيني مينه وکړه او هم يې ورته عزت ورکړو.

۱. مور و پلار ۲.ښځه/مېړمن ۳.ملګری.))

له دې څخه معلومېږي، چې د اسلام سپېڅلي دین هم د ملګرتیا پر پاللو ډېر ټینګار کړی، نو له دې امله ده، چې د دغه مسوولیت په ترسره کولو د دنیا او اخرت ګټه ده، رښتيني ملګری هغه نه دی، چې له چا سره دې ملګرتیا ډېره پخوانۍ وي، بلکه ښه ملګری هغه څوک دی، چې له تا سره ستا په هره ستونزه او مشکل کې ملګری وي، يو ليکوال وايي: (د ښو ملګرو پيدا کول هنر دی، خو د ملګرتیا پالل حکمت دی او د حکمت هيله له کمو خلکو کېږي.) هغه شخص د ژوند په ټولو چارو لاس بری وي، څوک چې احساس د مسووليت ولري، د ملګرتیا پالل نه يواځې دا چې موږ ته په دې دنيا خوشالي او هوسا ژوند برابروي، بلکه د اخرت لپاره هم يوه غوره تحفه او ډالۍ ده او زموږ د کاميابۍ باعث کېږي.

امام شافعي رحمه الله فرمايي دا د کم اصل سړي نښه ده، چې کله هغه د مال خاوند شي، نو د خپلو۔ خپلوانو سره په کبر چلند کوي او د پخواني، ملګرو نه ځان نا اشنا کوي، د يوه لوړ موقف ته تر رسېدلو وروسته په کار دا نه ده، چې بيا د ملګرتيا مزی پرې شي دا مزی بايد تر ابده وي، ځکه خو وايي، چې ملګرتيا د يوه مرغه په څېر ده، که چېرې په سختۍ يې ونيسې، نو مري او که په نرمۍ يې ونيسې الوزي، خو که په مينه يې

ونیسي، نو ټول عمر به له تا سره وي، معنا دا چې هغه ټول مسوولیتونه، کوم چې د نیمې ملګرتیا ځانګړنه ثابتوي، باید ټول په نظر کې ونیول شي، ترڅو د یو تلپاتې ملګرتیا سبب شي.

د ملګرتیا اصول داسې وي، چې په هغه کې باید منځګړی حالت غوره شي، کړه وړه، سلوک مو ډېر په نرمۍ سره وي، یو د بل په ستونزو باخبره اوسو او د اړتیا پر وخت ورته لاس رسی ولرو.

د ځان لپاره داسې ملګري ټاکل په کار دي، چې په یو محفل کې زموږ د خبرو پر مهال زموږ پر غلطیو پرده واچوي، خو په تنهایۍ کې بیا پر هماغه نیمګړتیاوو موږ ته نصیحت وکړي، ځکه افضل انسان هغه څوک دی، چې پر خپلو اصلاحاتو بوخت وي، په کایناتو کې تر ټولو قیمتي شی احساس دی، خو متاسفانه چې له هر چا سره شتون نه لري .احساس د مسوولیت هغه څوک کولای شي، څوک چې د علم پر ګاڼه سمبال وي او د ښو اشخاصو ملګرتیا ولري، موږ د فرصت کلمه پر هغه مهال استعمالوو کله چې له یو کاره ستړي شو، ذهن مو نا ارامه وي، ټولنیزې ناخوالې او تعصبات راباندې زور شي، بیا نو د خپل فکر د بدلېدا په موخه د یو نږدې ملګري څنګ ته ځو او خپل وزګار وخت هغه سره تېروو، خو کله چې ډېر په سکون حالت کې اوسو او هېڅ ډول ستونزه ونه لرو، نو ځان لپاره یواځېتوب غوره ملګری ګڼو .په خپلو مبالغوي تصوراتو او خیالي نړۍ کې دومره غرق شو، چې د ژوند هغه غوره ملګری، چې تل زموږ په ستونزو او تاوتریخجنو حالاتو کې له موږ سره پاتې وي، له یاده مو وځي، هېڅ یې په اړه فکر نه لرو او خپل کمزوري خواهښات پر موږ لاس بري وي، خو دا

ډول ملګرتیا بیا تر یو معلوم وخته پورې دوام کوي او خپل مطلب ته تر رسېدو وروسته بېرته له منځه ځي، دې ته مو د انسانیت او له عاطفې هغه ډکه کلمه، چې د با وفا شخص لپاره کاروو(ملګری) نه شو ویلی، دا ډول وګړي احساس د مسوولیت نه شي درک کولی، دوی فقط تر خپلې اړتیا پوره کېدو پورې ستاسې ملګري وي، خو چې موخې ته ورسېږي او مطلب یې پوره شي، بیا دې نو پاڼه هم په بله نه اړوي، هغه د پښتو متل دی، چې وایي: (کار پوره، هندو غره.)

# د پاملرنې ډالۍ!

که تاسې ملګرو ته په ډالۍ کې څه ورکول غواړئ، نو هغوی ته د خپلې پاملرنې ډالۍ ورکړئ، هغوی ته وخت او ارزښت ورکړئ، خبرې یې د زړه پر غوږو واورئ، هغه نیوکې او ګیلې، چې تاسو یې له خپلو ملګرو څخه لرئ، هغه ورته مخامخ ووایاست، د نورو توکو په ډالیو یې مه خوشالوئ، بلکه د ښښنې ډالۍ ورته ورکړئ، که یو چاته د زړه له تله او په پاک نیت ښښنه وکړئ، نو نه یوازې هغه د خوښۍ احساس کوي، بلکه هغه د ډېر سکون او ارامۍ لپاره د ژوند هیله پیدا کوي.

همدارنګه که یو څوک له تاسې وپوښتي، چې له ما څخه په ډالۍ کې څه غواړې، نو تاسې ورته ووایې، زه چې څه ډول یم، ما همداسې قبول که، نو دا به ستاسې له اړخه ماته تر ټولو غوره او ارزښتمنه ډالۍ وي .

د پورتنیو خبرو د لا وضاحت او ثبوت لپاره باید دا هم وویل شي، چې کله یو انسان غواړي د نورو وګړو په زړه کې ځانګړی مقام ولري او تل یې خلک عزت وکړي، نو باید دی دې نورو خلکو ته درناوی ولري او تل دې د هغوی احترام کوي، هغه تر دې لویان دي او که کوچنیان.

که چېرې تاسې د یو چا خبرې ته غوږ نه ږدئ یا هم د هغوی د خبرو په جریان کې تاسې کوم بل چاسره یا په کوم شي ځان بوخت کړئ، نو نومړی شخص د خجالتیا احساس کوي او دا فکر کوي، چې ګوندې خبرې یې بې خونده دي او خلکو پروړاندې د تمسخر وړدی.
همدې موضوع ته د ژورنالیزم په ځینو اصولو کې هم ځای ورکړ شوی، هغه ژورنالیست، چې له کوم شخص سره مرکه کوي، نو باید د پوښتنې تر مطرح کولو وروسته، د خپل مرکچي ټولو ځوابونو ته په مینه غوږ شي او په دقت دې دهغې خبرې واوري، ممکن نوموړي ته په ځوابونو کې ځینې نورې پوښتنې هم راولاړې شي، بیا هغه هم ورسره مطرح کړي او په ډېرې اسانۍ سره ویاند خپلې موخې ته ځان ورسوي او که دا پاملرنه وجود ونلري، نو دلته بیا دوه خبرې را ولاړېږي، لومړی دا، چې په دوی د بد اخلاقۍ نوم ورتپل کېږي او بل دا، هغه شخص چې غږېږي، که تاسې ورته متوجه ونه اوسئ، نو ډېر امکان لري، چې هغه خپلې خبرې وپاشي او په هاغه او دغه ځان خلاص کړي، نو په کار دا ده، چې تاسې سره څوک غږېږي، باید سترګې مو د هغې په سترګو کې خښې وي، خبرې یې تر پایه واورئ او د ملګرتیا فضا رامنځته کړئ.

# وینا او پر ژوند یې اغېز

دلته دوه خبرې دي: یا به دا اغېز منفي وي یا هم مثبت، د پښتو متل دی، چې وايي: ((خپله ژبه هم قلاده، هم بلا ده.))د متل مفهوم ته په کتو، ښه او بد د انسان په واک کې دي، که چېرې د وینا او خبرو پر مهال د خپلې ژبې سره پام وکړي، نو ښې شهرت امېزه پایلې به ولري،مګر که خبرو ته یې پام نه وي او د هرې وینا لپاره مناسب ځای ونه پېژني، نو لرې نده، چې له بلا ستونزو سره مخ او د سر خطر ورته پیداشي، اوس نو پوښتنه دا ده، چې په کوم صورت کې انسان بد ویلو ته اړ کېږي؟

د مظلوم پر وړاندې د ظالم د ظلم پروخت، د حق د نه ور کړې په صورت کې او تر ټنګ یې، کله چې انسان د ژوند په یو اړخ کې ډېر خوا بدی شي، له رواني بوږنوونکو حالاتو څخه تنګ شي، نو دی اړ کېږي، چې خپل درد په بېلابېلو الفاظو، خپلو همفکره ملګرو او د نظر خاوندانو سره شریک کړي، د ده لید لوری او سیاسي

شعور ارتقاء کوي، په هر ډول سیاسي او جګړېزو مسایلو بحث کوي، په زړه بار شوی ټولنیز درد، د مشرانو په توهین، کنځا، ښېرا او له حکومته په ناهیلي بدرګه کوي، دا ټول هغه څه دي، چې انسان بد اخلاقي او بد سلوکۍ ته اړباسي.

دلته یوه لویه ستونزه دا ده، چې افغانستان په څبر هېواد، چې تر بل هر هېواده د زور واکۍ، نا امنۍ، ټوپک سالارۍ، فساد، غصب، تعصب، ژبني، سمتي او داسې نور...

مسایلو او نیمګړتیاوو پر وړاندې د عامو، ناچاره او کمزورو ولسونو غږ په تحقیر امېزه الفاظو له خولو راوځي او د حکومت له کړنو ډېر زړه ماتي شي، همدا ټولې هغه خبرې دي، چې د انسان په بد ویلو بناء کېږي.

اوس نو خبره دلته د احساس، درک او د حوصله مندۍ ده، که انسان خپل ژوند ته فکر وکړي او بیا چې زر او زور هم ونلري، نو هغه د مشرانو خبره (پټه خوله پاچاهي ده.) ښه به دا وي، چې په غیر مستقیم ډول خپل غږ پورته او حق تر لاسه کړي، ځکه چې د خان ساتل هم فرض دي، په ځینو حالاتو کې د خپل حق په مقابل کې چپ پاتې کېدل، بې زړه توب نه، بلکه زړورتیا ده، بیا داسې یو هېواد کې، چې انسان ته د حیوان هومره ارزښت هم نه ورکول کېږي او بشري حقونه یې هم تر پښولاندې وي.

لنډه دا چې انسان ته باید تر بل هر څه لومړی خپل ژوند اړین وي

او ټولنیز مسایل په دوهم پړاوکې راولي، که چېرې د زورواکی په لوړ پوړ کې یو مسکین، بې خولې او ناچاره شخص په یواځې ځان خپل غږ پورته کوي، نو دا هیڅ کله مثبته او ګټوره پایله نلري، خو که یو لاس، یو موټی او په یو غږ سره راټول شو، نو هم به مو خپل حق تر لاسه کړي وي او هم به مو خپل سر ساتلی وي.

Downloaded From:
Telegram:@AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# روح لوبوونکي توکي

هر انسان خپل ژوند کې یو ستر ارمان دا لري، چې د ټول عمر خوښي لاسته راوړي، ځان له خوشالیو څخه برخمن کړي او دا شخص کوښښ کوي، چې دا ډول ټل پاتې خوښي بیرون له تولنې څخه لاسته راوړي، وایي که دا فلانی توکی تر لاسه کړم، نو زه به ډېر خوشاله شم، دا فلانی هلک/نجلی که زما ملګری/ملګرې شي، نو زه به بې اندازې خوښ اوسم او...

خو دا ټول اشخاص په دې خبرو خپل ګټور وخت له لاسه ورکوي؛ ځکه چې ټل پاتې خوښي د ټولنې له وګړو نه، بلکه د انسان په داخل کې وجود لري او هڅه دې وکړي، چې د دې په پیدا کولو کې دی لاس په کار شي، ترڅو یې چې داخلي خوښي نه وي موندلې،نو ټل به نا ارامه او نا خوښه وي.

هغـه انسـان چـې دا ډول لنـډ مهالـه تـولنيزه خوشـالي تـر لاسـه کولـو تـه ژمـن وي، نـو دی بـه لبـاسي او د لنـډې مـودې لپـاره پـر شـونډو مسـکا ولـري، خـو هيڅکلـه بـه يـې د روح د تسـکين لامل نشي.

ډېری وګـړي لـوی شي، خـو بيـا هـم لويـان نـه وي، لکـه څـه ډول چـې د کوچنيـانو د خوشـالولو او هغـوی د پـام بـدلولو لپـاره ورتـه د لوبـو تـوکي، لکـه: (نانځکـه، مـوټر، مصنوعي تـوفنګچې او....)تـه اړتيـا وي، همدارنګـه دوی تـه بيـا دځـان خوشـالولو لپـاره (د روح لوبـونکی توکی)پـه کـار وي، دوی داسـې ګـمان کـوي، کـه تـوکی يـې تـر لاسـه نـه کـړي، نـو روح بـه يـې نـا ارامـه وي او هيڅکلـه بـه ځـان خوشـاله ونـه ګـوري، ډېـر داسـې وګـړي شـته، چـې د همـدې ماشـومانه فکـر لـه کبلـه يـې پـر ځـانونو خوښـي حرامـه کـړې ده، نـو دا وګـړي دې هڅـه وکـړي، چـې لـه دغـه کـرکېچن حالـت نـه دې، نـور بيـرون راوځـي او پـه دې کې دې ټول عمر نه نښلي.

د يـو انسـان د کاميـابۍ او پرمختـګ راز هـم پـه دې کـې نغښـتی، چـې هغـه لـومړی د هـر څـه وړانـدې، پـه خپـل ځـان کـار وکـړي، موخـه دا ده، چـې خپـل فکـر دې جـوړ کـړي، لـه خواهشـاتو، لـه توقعـاتو او هغـه څـه، چـې د دې لـه وسـه پورتـه وي، پـه هغـې پـورې دې خپلـې هيلـې نـه تـړي، دا مهـارت دې

زده کړي، چې څنګه او په کومه ممکنه لار، ځان هغه پایلې ته ورسوي، چې څه یې د ژوند موخه وي او په کومه خبره ځان راحت او خوښ لیدلی شي، هغه ته ځان ورسوي، کله چې دا خوښي یې په ځان کې پیدا کړه، نو پوه شه، چې لومړی به دی خپله او بیا به تر ټوله ټولنه خوشاله وي.

# که غواړئ مثبت فکر ولرئ، اړینه ده لاندې لارښوونې وڅارئ

**۱. په خپل ذهن کې د خوشالی او ګټې تصور ځای کړئ:**

د غوره انسان یوه نښه دا ده، چې هغه یو ښه صبر کوونکی وي او په هر کار کې د ښه نیت په درلودلو سره، د بریالیتوب پوړیو ته ځان رسوي، نو د هر ډول غمې او کوچنی ستونزې پر وړاندې باید سړی ناهیلی نشي، په ځان دې فشار نه راوړي، تر هغې دې مبارزې ته دوام ورکړي، ترڅو چې خپلې موخې ته نه وي رسېدلی، تل دې خپل ذهن خوشاله او ارامه وساتي.

**۲. د خبرو پر مهال له مثبتو کلمو او لفظونو ګټه واخلئ:**

کله - کله انسان د ټولنیزو او یا هم کورنیو ستونزو له کبله ناهیلی شي، نو بیا د بې اختیاره غوسې په درلودلو سره، په بد رد سر شي او داسې کلمات وکار وي، چې ګټور او زړه لاسته راوړنکي وي، نه زړه ماتونکي.

[illegible]

**۳. هڅه وکړئ منفی مفکورې له ذهنه لرې کړئ!**

تاسې به د داسې وګړو ډېرې بیلګې لیدلي وي، چې هغوی منفي ګڼلې وي او هغه څوک تېرې ځنګ کوي، د هېڅ لور سره چندان جوړه هم نه وي، کوښښ کوي، چې د هر چا په کار کې برخه ولري (هر کاره وي) او منفي اړخونه یې په ګوته کړي، تاسې باید ومنئ، که چېرې تاسې همداسې ذهنیت ولرئ، نو لرې نه ده، چې نوموړي په تحقیر امېزه الفاظو یاد کړې شي، د هېر نیسه به همدا وي، چې منفي مفکورې له ذهنه لرې کړو او مثبت وغږېږو، تر څو به خلکو کې د خپل نفوذ او محبوبیت ولرو، [illegible]

[illegible].

**۴. د خپل ژوند مثبتو او سمو اړخونو ته نظر وکړئ:**

په ژوند کې داسې بریالي او ګټونکي پړاوونه، چې له امله یې تاسې خوښ پاتې شوي یاست، د خپل خان د هڅو

ليواره يې په بيا-بيا ځل تکرار کړئ؛ نورو وګړو ته مثال پاتې شئ، پېلګې او لارې چارې يې له وګړو سره شريکې کړئ؛ ترڅو ستاسې له برکته دا دود عام شي او هر څوک د ځان د پياوړي کولو هود ولري.

مه هېروئ، چې د مثبت فکر کولو په لور پر هر ګام اخيستلو هم ستاسې په ژوند کې نېکي او خوشالي راوستلای شي.

**٥. لــه هغــه کســانو سره ناســته ولاړه او ملګرتيــا وکــړئ؛ چې مثبت فکر کوي:**

په ژوند کې د داسې اشخاصو سره ملګرتيا وکړئ، چې مثبت فکر، نيک خوی، ښه شهرت، حسنه اخلاق او پاکې نفسه انسان وي، د هغې له ګټورو مشورو، د برياليو کارنامو څخه زده کړه وکړئ، کوښښ وکړئ، چې په هر ډول وي د داسې مثبت فکره انسانانو په پيدا کولو کې ذهين اوسئ؛ ترڅو په اسانۍ سره ځان خپلو موخو ته ورسوئ او د هغوی له کړنو ګټه پورته کړئ.

**٦. له الهام ښښونکو فلمونو او داستانونو ګټه واخلئ:**

دا معلومــه خــبره ده، چې انســانان د بېلابېلــو ذوقونــو خاونــدان دي، هــر شــخص ځــانګړی فکــر او ذوق لــري، خــو بريــالي

انسان بيا هغه دی، چې هغه په هر څه کې د خپل ځان لپاره د ګټې لارې وپلټي، مثلاً که پښتو، هندي، ايراني، ترکي، انګليسي او اردو فلمونه، سريالونه ګوري يا هم داسې کتابونه لولي، چې داستاني يا کيسه ييزه بڼه ولري، نو دی دې يوازې خپل د ذوق تنده نه پرې خړوبوي، بلکه له دې څخه دې مثبت الهام واخلي او زده کړه دې ترې وکړي، ځينې وخت همدا تنقيد کول د انسان د برياليتوب راز ګرځي.

**۷. هغه څه په خپل ذهن کې انځور کړئ، چې غواړئ ويې لرئ:**

کله چې تاسې د ارامۍ احساس کوئ، نو په داسې مهال کې د خپلې بڼې او پرمختللې راتلونکې په اړه فکر کوئ، تصميمونه او پلانونه جوړوئ، دا ټول هغه څه دي، چې تاسې پرې ډېر په ارزانه او اسانه توګه خپلې موخې ته رسېدلی شئ، خو يوازې فکر مه کوئ، بلکه د تر لاسه کولو او عملي کولو لپاره يې په ځان سختي وګالئ او لاس په کار شئ.

**۸. زده کړئ، چې په خپلو فکرونو غالب و اوسئ:**

دیو ناممکن کار پر وړاندې هم تاسې خپل ځان ناکام مه بولئ، داسې انګېرئ، چې تاسې بریالي یاست، هیڅکله د کمترۍ فکر مه کوئ، خپل ذهن پراخ وساتئ او تل د ستونزو پر وړاندې ځانونه لاس بري وګڼئ، نو همدا ښه خوی به مو خپلو موخو ته ورسوي.

**۹. هغه کارونه او کړنې په ذهن کې را وګرځوئ، چې تاسې ته یوه انګېزه در کولی شي:**

هغه څه چې ستاسې د ذوق او پرمختګ مخه نیسي، له ذهنه یې لرې کړئ، داسې وګړو سره ملګرتیا هم مه کوئ، چې تاسې ناهیلي کوي او تل زړه ماتونکې الفاظ کاروي، خپل د ذوقونو پالنه خپله وکړئ، په هر څه کې، چې تاسې ځان ارام او خوښ احساسوئ، د هماغه کارونو د تر سره کولو هوډ پیاوړی وساتئ.

**۱۰. په یوه موضوع تمرکز او څارنه زده کړئ او تمرین وکړئ:**

د خبرو او علمي بحثونو څخه د مخه، لومړی یې ښه تمرین کړئ، بیا یې د وړاندې کولو پر مهال د موضوع په اصل

تمرکز ولرئ، د احادیثو او قرآني آیتونو او علمي اشخاصو له بیلګو ګټه واخلئ او په خپلو موضوعاتو کې ورته ځای ورکړئ. کوښښ وکړئ، چې د پیل نه تر پایه د بحث محتوا کې ثبات او تسلسل وساتئ.

**۱۱. د خوښې اوسېدو مهارتونه زده کړئ:**

زده کړئ چې څه ډول ځانونه خوشاله ساتلی شئ، هغه څه دي، چې تاسې یې له کتابه خوښ اوسېدلی شئ، هغه کتابونه دي، انسانان دي، حیوانات دي او که نباتات، په دې هر څه کې تاسې توازن، هغه څه ته ارزښت ورکړئ چې ستاسې په خوله خندا راوستلی شي او دا چې په کومه طریقه، نو باید د مهارت یې زده کړئ او ژوند مو له خوښیو ډک کړئ.

**۱۲. سپورت مه هېروئ:**

سپورت/ورزش ستاسې د ښې روغتیا د تظمین تر څنګ ارام ساتلی شي، د ګام بدلولو لپاره یو کوښښ لا زده، چې تاسې بوخت ساتي، فکر او د بدن غړي مو تازه کوي، نو تاسې د ژوند په اوږدو کې سپورت ته وخت ځانګړی کړئ.

**۱۳. خندا او خوشالۍ ته اهمیت ورکړئ:** یو ډېر مشهور اصطلاح ده، چې وايي: ((د روغ صحت په قيمت هغه څوک پوهیږي، چې د ناروغی په بستر پروت وي.)) او د خوشالۍ په ارزښت هغه څوک پوهیږي، چې ډېر وخت یې په خفگان کې تېر کړی وي. نو د ژوند (هغه برخې) چې تاسې ته په خوشالۍ درکول کېږي، قدرداني یې وکړئ او خپلو خنداګانو ته په درنه سترګه وګورئ، مخکې له هغې، چې د غم، خفګان او ژړا ښکار شئ.

**۱۴. د ناتوانیو پر ځای خپلو خواکمنتیاوو ته وګورئ:** د هرې ستونزې او ننګونې پر وړاندې د بریالیتوب احساس پیدا وکړئ، چې د نا امیدۍ پر ځای په حل لارو فکر وکړئ.

**۱۵. د هغه څه په ځای، چې نه یې لرئ، په هغه څه شکر وباسئ، چې څښتنان یې یاست:** په دغه برخه کې د اسلامي لارښوونو څخه استفاده کول تاسې ته هیله بښونکې لارې پرانیځي، الله ج خپلو بندګانو ته وايي، چې تاسې هیڅکله ناشکري مه کوئ، چې مخکې مو درلودل، نو که په هر څه شکر ګزاره اوسئ، تاسې له دې نه پوهېږئ هم ادا کول شي؟ تاسې ته به الله پاک له

هغو خزانو څخه درکړي، چې ګمان کې مو هم نه راځي، نو څه چې په واک او اختیار کې لرئ، په هغه شکر وباسئ او د الله ج احسان ومنئ.

**۱۶. (نه شم کولی) دا کلمه له ذهنه وباسئ:**

ډېر وګړي داسې وي، چې هغوی ښې وړتیاوې لري، خو بیا هم ځانونه کمزوري بولي، هر کار ته یې چې مخ کوې، بس همدا یې ځواب وي، چې زه یې نشم، دا زما له وسه نه ده پوره، په داسې حال کې، چې دا به یو ښه پیاوړی شخص اوسي، د دا ډول خلکو په ذهنونو باید کار وشي او د هغه بریالیو انسانانو کیسې ورته واورول شي، چې په نشتو امکاناتو او سختو پړاونو کې یې مبارزه کړې، خو خپلو موخو ته یې ځانونه رسولي، یوه ډېره سولبدلې او کلیشه خبره ده: (هیڅ د مور به نس کې یو څه نه دي زده کړي.) یعنې دا هر څه په یو جرأت سره تر سره کېږي، نو تاسې هیڅکله د نشم کلمه مه کاروئ، هڅه وکړئ، چې لاس په کار شئ او بریا خپله کړئ.

پای

**ستاسې د لا ډېرو پرمختګونو او بریالیتوبونو په هیله**